لومړی شعري ټولګه

# ویښې شپې



وینا وال: انعام الله انعام

خپرندویه ټولنه: پښتو ادبي پېوستون سرائ نورنګ (لکي مروت)



## ویښې شپې

راتاؤ لکه مارونه دي لهٔ مانه ویښې شپې
ټکونه راکوي پهٔ زړهٔ جانانه ویښې شپې

لګیا دي قتلوي مې پهٔ ارمان پسې ارمان
مقتل مې جوړوي لهٔ زړهٔ، جانانه! ویښې شپې

خوپن لکه چې څهٔ رنګ تاو راتاو کرځوي ګرد
هم داسې ګرځوي مې سرګردانه ویښې شپې

نهٔ خپل څهٔ راته وايي او نهٔ اوري لهٔ ما څهٔ
دا ګونګې ، دا کڼې ، دا بې زبانه ویښې شپې

نصیبه ! دا يې سترګې خوښې شوې دي زما
که نه سترې پرتې دي د رڼا نه ویښې شپې

"انعامه" دغو ویښو شپو خو تهٔ کړې راجوت
چې وینم پهٔ لاسونو کښې هر چانه "ویښې شپې"



لومړۍ شعري ټولګه

# وینبې شپې

لیکوال : انعام الله انعام (لېکچرار)

سراې نورنګ لکي مروت

۲۰۱۳ ء

خپرندویه ټولنه : پښتو ادبي پیوستون سراې نورنګ

بسم اللّٰه الرّحمن الرّحیم

حقوق د مصنف دي

## کتاب پېژندنه



| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | * وینښې شپې |
| لیکوال | * انعام الله انعام |
| چاپکال | * ۲۰۱۳ |
| چاپځاې | * |
| پروف ریډنګ | * شاه حسېن ظهیر او انعام الله انعام |

کمپوزچارې * سلیم قرار 8077404 -0301

د کتاب بیه *

خپرندویه ټولنه * پښتو ادبي پېوستون سرای نورنګ

## درکونه

* حمزه بك ډپو چوك بازار بنو
* غزالي بك هاوس لکي مروت
* یونیورستي بك ایجنسي پېښور

# وینښې شپې

انعام اللہ انعام زما ډېر نزدې ملګری دی. زهٔ د هغهٔ د وینښو شپو نه ښهٔ خبر یم. پهٔ انعام باندې خپلو دماغو او خپل حساس زړهٔ ډېرې وینښې شپې تېرې کړې دي. انعام د رڼا ورځې تیارې پهٔ زړهٔ کښې نغښتې او د

شپې پهٔ تنهايئ کښې يې ځان ته راپرسېره کړې دي. د ټولنې پهٔ ناسازو او روا او ناروا باندې يې زړهٔ خوږلے دے او د شعر پهٔ ژبه يې د معاشرتي ناپسندو غندنه کړې ده د دوران فکرونو سره سره د انعام پهٔ زړهٔ د جانان فکرونه هم لوبې او وراني کوي. د دوران غمونو ستړي کړي انعام لا ستړګې نهٔ وي پټې کړې چې د جانان يادونه يې د زړهٔ ور وټکوي نو انعام راپاځي او وايي :

خوب مې د مرغۍ شو پهٔ جانان پسې
غږ مې د شپېلۍ شو پهٔ جانان پسې

نور زهٔ ډېرې خبرې کول نهٔ غواړم. تاسو پخپله د انعام شاعري وګورئ او خوند

ترې واخلئ ٠

ډېر پهٔ درناوي

شاه حسين ظهير

# حمدِ پاك

پهٔ دشت دې يم حېران ، پهٔ سمندر دې يم حېران
پهٔ سمې دې حېران يم هم پهٔ غر دې يم حېران

که ستوري که سپوږمۍ ده که مخلوق دے پهٔ جهان
پهٔ هر څهٔ دې نظر دے پهٔ نظر دې يم حېران

بېګا کښې يو منظر وي او سبا ته بل منظر
سبا او د بېګا پهٔ دې منظر دې يم حېران

څهٔ ښکلي ښکلي خلق دې پېدا دي لر و بر
د ښکلو د ښائست پهٔ لر و بر دې يم حېران

چې څهٔ دې هم پېدا دي ، دي پېدا دې پهٔ هُنر
تخليق ته دې حېران يم ، پهٔ هُنر دې يم حېران

***

راکــوزې قهرېــدلې لــهٔ اسمانــه وینبــې شپــې
ما وژنې راپسې دې بې لـهٔ تانـه ، وینبـې شپـې

لګیـا دې قتلـوې مـې پـهٔ ارمـان پسـې ارمـان
مقتل مې جـوړوې لـهٔ زړهٔ ، جانانه ! وینبـې شپـې

څوپړ لکه چې څهٔ رنګ تاو راتاو ګرځـوې ګرد
هم داسې ګرځـوې مـې سرګردانـه وینبـې شپـې

عـالم واړه اودهٔ دی او یـو زهٔ یـم پکښـې ویـښ
هېڅ ترس نهٔ لري زړهٔ کښې بې ایمانه وینبې شپې

---

د عقـل افلاطـون مـې پکښـې ګرځـي وارخطـا
راغلــې دي څــهٔ داســې پرېشانــه وینښــې شپــې

نهٔ خپل څهٔ راته وايي او نهٔ اوري لهٔ ما څهٔ
دا ګونګې ، دا کڼې ، دا بې زبانه وینښې شپې

نصيبه ! دا يې ستړګې خوښې شوې دي زما
که نه ستړې پرتې دي د رڼا نه وینښې شپې

" انعامه " دغو وینښو شپو خو تهٔ کړې راجوت
چې وینم پهٔ لاسونو کښې هر چانه " وینښې شپې "

❁❁❁

***

مغــرور دې وي بېشکــه ستمګــر دې وي ضــرور
چې هر څنګ وي زما هم يو دلبر دې وي ضرور

کارونــه د ژونــدون دې نــوره کېږي پــهٔ دنيــا
خــو کــار د محبــت هــم لروبــر دې وي ضــرور

زهٔ دا نــهٔ وايــم نــهٔ دې جــوړوي هېڅــوك محــل
زهٔ وايم چې يـو چهت زما پهٔ سر دې وي ضرور

کـه نـهٔ غـواړي زمـا د درد دې نـهٔ کـوي علاج
خو دومره چې د درد نه مې خبر دې وي ضرور

پښتون که یم انسان یم ، د ژوندون لرمه حق
زما هم خپل وطن ، کلے ، ټبر دې وي ضرور

د زهرو خاتمه شي تل د زهرو په علاج
چې شر پرې ختمېدے شي داسې شر دې وي ضرور

رښتیا ورپسې مرم که په دَروغ وایم چې مرم
یو څو ورځې " انعامه " مرور دې وي ضرور

***

Pukhto.Net
پښتو

***

پـهٔ وخـت چـې نـهٔ کېږي علاج د پرهـر نـهٔ غواړمـه
د شپـې راتلـونکې خـوب لېمـو تـه سحـر نـهٔ غواړمـه

زمـا پـهٔ کـور دې پلـوشې نـهٔ لګـي ، نـهٔ مـې لګـي
هغـه چـې نـهٔ شتـه رڼاګـانې د لمـر نـهٔ غواړمـه

سیـوری مې پاسه پهٔ سر ستـا د لـوښتې چـې نـهٔ وي
لمـر مـې دې تـراړه کړي بېشکـه ، شجـر نـهٔ غواړمـه

چـې نـهٔ منـزل او نـهٔ د لارې یـې څـهٔ پتـه لګـي
لـهٔ دې کاروانـه پـاتې شـهٔ یـم سفـر نـهٔ غواړمـه

بس دی بس ډېر دې راته وکاته پښتون په نړۍ
پښتونه ! نور دې په ټوپك بهادر نه غوارمه

د کار سړی چې وي یوازې هم قبول دی راته
د کار سړی چې پکښې نه وي لښکر نه غوارمه

منم یو څو ورځې ژوندون دی شي به تېر " انعامه "
خو دا یو څو ورځې ژوندون د محشر نه غوارمه

Pukhto.Net
پښتو

***

نېکانو ته نېکان ، بد ته بدکار ورځي په لاس
هر چاته د خپل ځان په شانې يار ورځي په لاس

دا ځينې ځينې خلق چې بې وسه وي نو ښه وي
خدايان ترېنه جوړېږي چې اختيار ورځي په لاس

چې علم نه لري نو د ژوندون په افسانه کښې
پښتون ته به کردار د څوکيدار ورځي په لاس

چمن او ګلان شته خو د حالاتو جبر ګوره
بلبل ته په سپرلي کښې تش چغار ورځي په لاس

نغمې د خپل زخمي زخمي اولس به پکښې وايي
پښتون ته چې اوس هر کله سِتار ورځي په لاس

Pukhto.Net
پښتو

همزولو ته يې وېل چې "انعام جوړه ترې زانګــو کړي
چــې هــر کلــه زمــا د زلفــو تــار ورځـــي پــهٔ لاس

***

بــې وفــا نــهٔ يُــو خــو دا قيصــه مــو زړهٔ خــوري
قسمتونــه مـــو د يـــو بـــل ســـره نـــهٔ خـــوري

د هغـــو دپــاره راشـــه چـــې يـــو ځــاى شُـــو
هغـه څـوك چـې مـا او تـا پـهٔ بېلتـانهٔ خـوري

تـــا ســـره د ملاقـــات پـــهٔ سلسلـــو کښـــې
فلسفـي مـې د خيـال هـر سـاعت ماغـزهٔ خـوري

چــا یـــوه داســـې اژدهـــا ده رالېږلــــې
چې کوځـه پـهٔ کوځـه ګرځـي پښتـانهٔ خــوري

د ځـــوانۍ ، د نـــادانۍ عمـــر وي داســـې
کلــه کلــه سړی خپــل ســر پکښــې وخـــوري

زهٔ د بل چا امانت یمه " انعامه "
زنه بل څوك راپسې پهٔ دیوالهٔ خوري

Pukhto.Net

***

کمـزوری نـهٔ یـم حـوصلې د ځـان سـره ګرځـوم
زهٔ سمنـــدر یــم کنـــارې د ځـــان ســـره ګرځـــوم

سر به مې نهٔ کړې پهٔ کوم کوم باندې به لار جوړه کړې
زهٔ خــو د غرونـــو سلسلـــې د ځـــان ســـره ګرځـــوم

یــوهٔ ببرســري پرېشــان پښتــون فریــاد کــاوهٔ چــې
د ژونــدون تــولې حــادثې د ځــان ســره ګرځــوم

نــوې انــداز د زنــدګۍ پــهٔ غــرور مــه راښایــه
ستــا پخــوانۍ تېــرې قیصــې د ځــان ســره ګرځــوم

هغــهٔ تــه وایــه چــې د قبــد نــه دې مــا نــهٔ یــروي
زهٔ خــو پــهٔ عشــق کښــې زولنــې د ځــان ســره ګرځــوم

" انعامــه " شکــر پــهٔ فطــرت کښــې رڼاګــانې لــرم
تــوره شپــه نــهٔ یــم چــې تیــارې د ځــان ســره ګرځــوم

***

چې کار د محبت کوم جهان مې لۀ لاس ووځي
چې کار د مينې نۀ کوم جانان مې لۀ لاس ووځي

چې ښکلي راسره نۀ وي پۀ روح کښې مې تکليف وي
چې ښکلي ګرځومه نو ايمان مې لۀ لاس ووځي

د هجـــر بلاګــــانې مــــې تړلــــې پــــۀ زنځيــــر دي
جانانه لۀ ما مه ځه دشمنان مې لۀ لاس ووځي

جذبه به مې سره د منزل نۀ شي پۀ يو حال کښې
کشتۍ زما ډوبيږي که بادبان مې لۀ لاس ووځي

" انعامه " تندرونه خو هيڅا خوښ کړي نۀ دي
دا زۀ چې وير کومه ګلستان مې لۀ لاس ووځي

Pukhto.Net
پښتو

***

د مینې رنګ باندې به ساز شم په بل رنګ نه کېږي
زما تصویر په تېښې نه کېږي ، په سنګ نه کېږي

لاسونه پښې مې دي تړلي څه کولې نه شم
ګنې په ما خو دې د سرو وینو قلنګ نه کېږي

چې محبت کوې جذبه د محبت هم ښایه
نه ښکارې ښکلې په دریاب کښې چې غورځنګ نه کېږي

هر یو مقصد دپاره شرط دی د محنت حرارت
چې لېچې نه وي په خالي لاسونو شړنګ نه کېږي

قدرت د هر چا په قسمت کښې محبت نه لیکي
په هرې زمکې رامبېل نه کېږي ، لونګ نه کېږي

اختلافات که د يو بل لري " انعامه " مګر
ورور که دې ډېر هم شي دُښمن ، ورسره جنګ نهٔ کېږي

***

پهٔ زمکه بوج يم نهٔ خطره يم د انسان دپاره
خلقو دنيا ته غلط پېش کړمه د ځان دپاره

مونږه خو دغسې د مينې لېونو کښې نهٔ يُو
د بدنامۍ داغ کله اخلو د ارمان دپاره

ګټه پهٔ لنډ وخت کښې مزه کوي خو داسې هم نه
چې پهٔ ټوپك سړے اوچت کړه د تاوان دپاره

Pukhto.Net

د داســې مینــې بــه انجــام ولــې بدرنګــه نــهٔ وي
چې پهٔ قرضه یــې تحفــه یــووړه د جانــان دپــاره

د یــار وصــال دپــاره دوه تحفــې " انعامــه " ورمــه
یــوه مــې د یــار دپــاره ، بلــه د دربــان دپــاره

Pukhto.Net
پښتو

# وینې وینې وطن

کومــو سپېرمخــو درتــه وکړه بدُدعــا وطنــه
چې زخم زخم وینې وینې شـوې زما وطنه

ستــا د اسمــان د ستــورو هغــه پلــوشې حسینــې
چــې پــهٔ کتــو بــه د نظــر ورتــه لیلا ګډېــده
ستــا د سپــوږمۍ د رڼاګانــو د محــراب د لانــدې
د زنــدګۍ پېغلــه بــه مستــه پــهٔ خنــدا ګډېــده
نــن شــوه بدلــه پــهٔ تیــارو د ستــا رڼــا وطنــه

ستــا د رنګینــو شنــو باغونــو خــوش اوازه مرغــۍ
چــا کړې رامنــع پــهٔ ټــوپك لــهٔ تــرنم د مینــې
چــا آبشارونــه کړل خاموشــه ستــا د دنګــو غرونــو

چـا محفلونـه ستـا بـدل کړل پـهٔ مـاتم ، دمینــې
چـا کړلــه ډکــه پــهٔ لوګــو د ستــا فضــا وطنــه

ستا د ښائست هره یوه څانګه د وحشت طوفان کښې
کلـه شــي پورتـه کلـه ټیټـه کلـه ترخ ماتـه شــي
ټکړې ټکړې شـوه ستـا د ننـګ او د نامـوس آئینـه
کله لهٔ روستو ګوزار خوري کله پهٔ مخ ، ماته شي
څـهٔ د دردونـو وخـت راغلـے درے پـهٔ تـا وطنـه

اول څــهٔ داســې د مړګونــو ارزانــي خــو نــهٔ وه
اول خــو داســې نــهٔ وې تــهٔ د زنـدګۍ وطـن وې
داسې خـو نـهٔ وو انتشار پهٔ تا کښـې نـهٔ وو نفـرت
د محبــت ، د یــووالۍ ، د ورورولــۍ وطــن وې
لــهٔ کومــه راغلــه دا پــهٔ تــا د غــم بلا وطنــه

ستا د وجود نه ستا دُښمن ته قرار نۀ وردرومي
ستـا ورانولـو تـه لګیـا دي منصـوبې جـوړوي
تۀ یې پۀ سترګو کښې ازغے یې تا زغملے نۀ شي
د ستـا بغېـره د دنیـا نـوې نقشـې جـوړوي
د ستا دُښمـن دې خـدا‌ے پخپلـه کړي فنـا وطنـه

ستا د دُښمن د تورې پرق دې پۀ تیاروکښې ډوب شي
ستـا د دُښمـن د طاقتونـو غـرور خـاورې غـواړم
ستا پـۀ بـدن سلامـت غـواړم لبـاس ستـا د عـزت
ستـا د دُښمبـن د عزتونـو غـرور خـاورې غـواړم
بېرغ دې هېڅکله هم ټيټ نۀ شي د ستـا وطنـه

مـی ۲۰۰۹ء

***

دلته چې څوك هم د ارمان دپاره کور جوړوي
دا خو د ستنې په سر ځان دپاره کور جوړوي

ډاکـه یـې وکړلـه د لارې خلـق یـې وشوکـول
یو ایماندار د خپل خاندان دپاره کور جوړوي

د ستا غرور یې په معصوم مزاج کښې نهٔ ځائیږي
هسـې لـهٔ ختـو د بـاران دپـاره کـور جـوړوي

زهٔ یې په سوچ کړمه یوه غنچه چې راوزنګیده
د نـري تـار نـه د ګـزران دپـاره کـور جـوړوي

Pukhto.Net پښتو

" انعــام " پــهٔ پنځو پنځو راوړې د ګلونــو پاڼــې
ترې يوهٔ نازك غوندې جانان دپاره کور جوړوي
***

دردمند دردمند دې کړم وېښتهٔ وېښتهٔ باندې جانانهانـه
د غرهٔ غوندې مې پروت يې پاس پهٔ زړهٔ باندې جانانـه

رالنډې فــاصلې کــه زړهٔ تــه زړهٔ بانــدې جانانـــه
راځه چې ژوندون تېر کړو ورهٔ پهٔ ورهٔ باندې جانانـه

د مينـــې حادثـــه مـــو داســـې وشولـــه بـــې پامـــه
يـو ړوند لکـه چـې ورشـي پـهٔ ړانـدهٔ بانـدې جانانـه

Pukhto.Net
پښتـــو

د سترګــو پـــهٔ قيصـــو پوهـــوه ستـــرګې کلـــه کلـــه
د زړهٔ هـره قيصـه نـهٔ شـي پـهٔ خـولهٔ بانـدې جانانـه

هـوسۍ زمـا د هـوش دې لـهٔ وحشتـه وارخطـا کړه
بـې دم دې کړم د حُسـن پــهٔ لېـوهٔ بانــدې جانانــه

اللّه مـو دې د خبـر سره پـرې پـورې سلامـت کړي
د دور د فتنـــې د دريـــاب پلـــهٔ بانـــدې جانانـــه

راوړي به درتـه څـهٔ هم د دنيا پـهٔ مـخ چــې غــواړې
"انعام" چې چېرې شمېر نهٔ کړې پهٔ مړهٔ باندې جانانه

❁❁❁

***

لاړلـــو لــهٔ مـــا مکمـــل پرېوتـــو نـــو پرېوتـــو
سر مې ستا پهٔ در چې يـو ځـل پرېوتـو نـو پرېوتـو

رانغـے پـهٔ لاس دوبـاره ستـا کوځـه کښـې ورك شولـو
زړهٔ مې لهٔ ګـوګل چـې پـهٔ ځغـل پرېوتـو نـو پرېوتـو

بيـا مـې پـهٔ خيالونـو کښـې يـوه زره هـم رانغـے
يـو ځــل چــې د مينــې محــل پرېوتــو نــو پرېوتــو

Pukhto.Net
پښتو

هغه یوه سجده وه چې آدم ته پهٔ وخت اونهٔ شوه
بیا چې پهٔ دنیا کښې خلل پرېوتو نو پرېوتو

پاتې شو ترې پاتې جهان ، بېرته رااوچت نهٔ شو
راغے پهٔ هر چا چې اجل پرېوتو نو پرېوتو

رنګ شولو د ستاپهٔ رنګ کښې پاتې یې رنګ نهٔ شولو
پل چې د " انعام " ستا پهٔ پل پرېوتو نو پرېوتو

Pukhto.Net
پښتو

***

چې زړهٔ دې وي نــو را بــه شــي جانــان محبتونــه
دا مــه وایــه چـــې ورې دي هجـــران محبتونـــه

یـوې لمحـې لـه راغـے اجنبـي خــو داسـې راغـے
پــهٔ سترګــو کښــې یــې راکړل د جهــان محبتونــه

نفرت دې راله ښهٔ دړ ټیټې سترګې خو به نهٔ یم
لــهٔ ځــان ســره دې یوســه د احســان محبتونـــه

د دې دور جانــان ســره بــه داســې وصــال کیږي
حــاصل چــې پــهٔ تحفــو شــي د دربــان محبتونــه

څهٔ چل خو دړ چې داسې عجیبه تبدیلي راغله
لــهٔ جــام ســره چــې نــهٔ کــوي رنــدان محبتونــه

دنیـا تــه نــن بلهـا د محبــت ضــرورت پېــښ دی
لازم کــــه لازمــــاً ګـــوره پــــهٔ ځـــان محبتونــــه

هنــدو دې نــاز کــوي پـــهٔ محبــت د مندرونـــو
کعبــــې ســـــره دې وي د مسلمــــان محبتونــــه

کـــه داســـې تسلســـل د نفرتونــــو برقـــرار وو
یـــرېږم چـــې هېـــر نـــهٔ شـــي لـــهٔ انســان محبتونــه

" انعامــه " مینــه څومـره چـې کـولے شـې کـوه یـې
ډاډه اوســـه هېـــڅ نـــهٔ کـــوي نقصــان محبتونـــه

❁❁❁

***

د غـم غرونـــو کښـــې ګېـر يمـــه وحشـــت محسوســـوم
نـــن ډېـــر د ستـــا جانانـــه ضـــرورت محسوســـــوم

د مينې پهٔ احرام کښې ستا د مخ کعبې ته تيتې يم
سجـده کښـې ستـا د ښکلـي مـخ صفـت محسوســوم

لېــوهٔ د بېلتـــانهٔ مـــې ده هـــوسۍ د ژونـــد نيولـــې
رادرومـــــه لـــــهٔ زخمونـــــو اذيّـــــت محسوســــــوم

پنډوکــې مــې پــهٔ ســر د سفــر نــهٔ وي لا تړلــې
سفـــر نـــه ستړې ستړې طبيعـــت محسوســـوم

د خيــال مچـۍ مــې ستــا د اننګــو پــهٔ ګــل بنېږي
ستا ياد کښــې د ګبيــن غونـدې خــوږلت محسوسـوم

پهٔ هر محفـل کښـې مـه کـوه " انعامـه " د يـار ذکـر
پــهٔ دې کښـــې رسوايـــي د محبـــت محسوســـوم

***

دشت کښې د الفت د تندرونـو برېښنـا خونـد کـوي
داسې طوفاني شپه کښې د زړونو درزا خوند کـوي

وي مــې دې پــهٔ وچــو وچــو شــونډو تمنــا د یــار
ګرځي دې هوسۍ پهٔ بیابان پهٔ صحرا خوند کوي

مـا چـې اسوېلـي ورتـه شـروع کړل جانـان اووئيـل
تـورو خلاصـو زلفو ته مـې داسـې هـوا خونـد کـوي

ما خـو درته وېل چـې سر پرېکړي یاران مه پرېږده
اوس دې چې غمجن وینم جانانه تنها ، خوند کـوي

ښکلي خو بس ښکلي دي ، د ښکلو پهٔ باب څهٔ دلیل
ښکلي خو " انعامه " بې دلیله واللّه خوند کوي

***

که نهٔ درځم خو بیا هم د درتلو ضرورت پېښ شي
چې ډېر شې را پهٔ زړهٔ ستا د لیدو ضرورت پېښ شي

راجمع ستارې مې رنګ پهٔ رنګ کړې چې کېدے شي
جانان ته پهٔ رنګینو لوپټو ضرورت پېښ شي

چرچڼو ! دومره هم بربادوئ مه د چا فصل
مالك ته هسې نه چې د لیندو ضرورت پېښ شي

پهٔ شونډو دې انکار کله اقرار ، وضاحت غواړم
لفظونه چې مبهم شي د معنو ضرورت پېښ شي

پستو نازکو پښو ته به يې هره لار قالين کړم
" انعامه " که جانان ته د راتلو ضرورت پېښ شي

***

Pukhto.Net
پښتو

هغه وايي صبر کوه ، زهٔ د انتظار کمزورے
يا مې پهٔ زړهٔ کلك که خدايه ، يا مې که نکارکمزورے

ستا د زلفو تار پسې ما ، ډېرې منډې اووهلې
تار مې پهٔ لاس رانغے خو ، زهٔ شوم لکه تار کمزورے

مینه هغه مینه نهٔ ده ، نهٔ وي چې ږنده پهٔ سترګو
حُسن هغه حُسن نهٔ دے ، وي چې د سنګار کمزورے

دغه د ساقي او د جام ، دا د مېخانې توهین کړي
دغه چې پرېوځي لاندې ، دغه د خُمار کمزورے

Pukhto.Net
پښتو

پاتې لکه بت غوندې شي ، هم ورته حېران زورور
کله کله یا " انعامه " ، وکړي داسې کار کمزورے

***

څوك چې د مینې نه انکار کوي
د ظالمانو خلقو کار کوي

څوك يې که غوارې او که نهٔ يې غوارې
ښکلي پهٔ زور زړونو ته لار کوي

پهٔ عاشقانو باندې بد مه وايئ
دوی څومره ښکلی کاروبار کوي

زهٔ د ستا داسې تمنا کومه
لکه د روغ صحت بیمار کوي

" انعامــه " بیړه کــوه پــاتې نــهٔ شــې
یـــوه لیـــونی دې انتظـــار کـــوي

# غم

## د سوات ملاکنډ د خلقو د هجرت په موقع

څهٔ عجيبه مو پهٔ وطن د غم غرمې جوړې شـوې
د خوېندو مېندو لوپټو نه چې خېمې جوړې شـوې

د پېغلـو جـو نـو پـهٔ قميـص د ستـارو ورځـې وې
نـــاز و ادا ، پـــهٔ بهانـــه د شرمېـــدو ورځـــې وې
پهٔ شړنګ د لېچو د خيال بام ته د ختو ورځـې وې
منګي پهٔ ترخ کښې پهٔ ګودر يې د ټپو ورځـې وې
د پېغلتوب لـهٔ ارمانـو يـې جنـازې جـوړې شـوې

د باباګانـو يـې پـهٔ کـټ کښـې د ارام ورځـې وې

د سپين وينبتو يې د ادب او احترام ورځې وې
پهٔ مُصلې د اللّه هو يې د کلام ورځې وې
پهٔ سهولت يې د ژوندون د اختتام ورځې وې
کډې پهٔ سر پهٔ مصيبت يې ورځې شپې جوړې شوې

د ماشومانو يې د لوبو د خندا ورځې وې
د لولکۍ د رانيولو خو يې دا ورځې وې
لهٔ هر يو غم يې بې خبره بې پروا ورځې وې
پهٔ هر قدم د شرارت يې پهٔ رښتيا ورځې وې
پهٔ ماشومتوب کښې يې پهٔ پښوکښې زولنې جوړې شوې

ژړا راځي چې د خېمو لاندې بچي وينمه
لهٔ لوږې تندې يې پهٔ مخ بې قراري وينمه
پهٔ شتهٔ کالهٔ کښې يې پهٔ لوګه زندګي وينمه
پهٔ زمکه ناست خولې خولې يې لهٔ ګرمي وينمه
د تنکو غوښو نه يې خدايه ترازې جوړې شوې

زمکــې پټــې شــول ترېنــه پــاتې لــهٔ کورونــو لاړل
پهٔ خپل وطن کښې پهٔ هجرت شول پهٔ آهونو لاړل
دستار يې پرېږدوه چې څهٔ شو لـهٔ سرونـو، لاړل
څوك يې نهٔ غواړي شول بې نامه لهٔ قومونـو لاړل
د ورکولـو ورتـه څـهٔ رنـګ بهـانې جـوړې شــوې

خدایـه منـو چـې ګناهګـار یـو د سـزا خلـق یــو
بې لارې شوي يو ستـا لارې نـه خطـا خلـق يـو
خـو تـهٔ رحيـم يــې د قهــار نظــر دې مــه راړوه
هر څهٔ چې يو ستا د نبيﷺ د اُمت بيا خلق يو
د حد نه زياتې مو نن تا وته اسرې جـوړې شـوې

خدايـه وطـن کښـې بيـا د امـن پسرلـي راولـې
هغـه بـې خوفـه بــې خطـره زندګــي راولــې
چې پهٔ هر لـوري بيـا ګلونـه د خنـدا پېـدا شـي

هغـه لـهٔ مـونږه مـروره خوشحالـي راولـې
که پهٔ وطن کښې د "انعام" بیاګلدرې جوړې شوې

❁❁❁

***

Pukhto.Net
پښتو

قدم اخلـي پـهٔ وړانـدې خـو سفر کېږي پـهٔ شـا
دا ځکـه نخوالونـه د رهبـر کېږي پـهٔ شـا

دنيـا کښـې خـو ښکلا ده پـهٔ سبـب د هُنرمنـد
تـوهين د هُنرمنـد بيـا هـم اکثـر کېږي پـهٔ شـا

انا يې رانـه وړي پـهٔ مخـه غيـر کښـې د حسـرت

راتلـو تـه ګنـې زړهٔ مـې د دلبـر کېږي پـهٔ شـا

پرون چې ناڅاپي د سترګـو جنـګ وشـو پـهٔ لار
د دغـې حـادثې خـو بـه اثـر کېږي پـهٔ شـا

" انعامـه " بـې وفـا کـه وفـادار دے مـا کړو یـار
پهٔ خدا‌ے شوه کوم انجام مې د باور کېږي پهٔ شا
***

خـــولهٔ وازه د فســـاد لـــري نهنـــګ د زمانـــې
پـــهٔ وینـــو ادا کېږي اوس قلنـــګ د زمانـــې

هر ښر کښې یې لګیـا دے عـزرائیل وهـي نـارې
راخېـژي د ربـاب نـه د مـرګ تـرنګ د زمانـې

د چالاس کښې خنجردے او د چا پهٔ لاس کښې ګـل
سهـي پـهٔ نطـر نـهٔ رادرومـي رنـګ د زمانـې

پـهٔ زړهٔ مـې کـانـې ایښــې دی د صبـر پـهٔ طاقــت
پهٔ ځان باندې مې پور نـهٔ کړلـو ننـګ د زمانــې

ایسار شه بس مې نهٔ دی د یـوې لمحـې وصـال
بخـرې بــه څــهٔ ویلــې کړي کــرنګ د زمانـــې

هـر چـا ورتـه " انعامــه " څکــه غـاړه ایښــې ده
خوشبـو خوشبـو جانـان مــې دی لـونګ د زمانــې

Pukhto.Net
پښتو

***

غـږ مـې د شپېلـۍ شـو پـهٔ جانـان پسـې
خوب مې د مرغۍ شو پـهٔ جانـان پسـې

داغ د محبـت مـې لـهٔ زړهٔ وران نـهٔ شـو
خال د شین خالۍ شو پهٔ جانـان پسـې

زړهٔ راســـره اوس ګـــزاره نـــهٔ کـــوي
تنـګ لـهٔ زنـدګۍ شـو پـهٔ جانـان پسـې

رنګ ، خـو شبـو خنـدا تـه انتظـار کـوي
ژوند مې د غـوټۍ شـو پـهٔ جانـان پسـې

Pukhto.Net پښتو

والوتــو " انعــام " يــې پــهٔ لټــون پســې
خــور لکــه سيلــۍ شــو پــهٔ جانــان پســې

***

بيا پاتې تمام عمر د ستا غـم دې ولـې نـهٔ وي
پهٔ لار راسره لاړ شه يـو قـدم دې ولـې نـهٔ وي

لهٔ زړهٔ مې مه اوباسه که حالات ديـوال ديـوال وي
پهٔ زړهٔ چې مطمئن يم ديدن کم دې ولې نهٔ وي

د ستا لهٔ کـور کعبه جـوړوم ستـا کلـي تـه ځمـه
چې يو ځلې کوم محبت ، سم دې ولـې نـهٔ وي

Pukhto.Net

څوك پټ څوك پهٔ ظاهره خامخا پهٔ چا مئین وي
چې هر څوك دي مئین زما صنم دې ولې نهٔ وي

پــهٔ لاس د نابلــدو ، د نااهلــو چــې وردرومــي
ټوټې ټوټې مات شهٔ درے جامِ جم دې ولې نـهٔ وي

" انعامـه " معاملې او جـرګې ببلــې دي د مینــې
سزا به ځان له غواړې جانان ګرم دې ولې نـهٔ وي

***

Pukhto.Net
پښتو

په یوهٔ لاس کښې سپوږمۍ په بل کښې لمر لري هغه
نـو څـهٔ بـه د مشـال زمـا خبـر لـري هغـه

زمـا او د هغـهٔ بـه څنګـه یـوه شـي عقیـده
زما زړهٔ کښې کعبـه ، زړهٔ کښې منـدر لـري هغـه

غمجن شـم دلتـه څـوك چې پېـدا کېږي نـن سبـا
د ستنـې پـهٔ سـر پـاس د ژونـد سفـر لـري هغـه

تنهـا شـوم چـې لښکـر مـې کړو جانـان تـه مخامـخ
تنهـا وو ، اوس د ځـان سـره لښکـر لـري هغـه

جانانـه تـا چـې تخـم وو کـرلے د الفـت
زرغـون دې دنګـه ونـه ده ثمـر لـري هغـه

Pukhto.Net

ټرلے یــو حسیــن یمــه پــهٔ بیله بیلــه مــوج
توبــــه ! د ښائستونــــو سمنــــدر لــــري هغــــه

" انعامه " چې څوك غواړي خپل منزل ته رسېدل
جنــون بــه ځــان دپــاره بیــا رهبــر لــري هغــه

Pukhto.Net
پښتو

***

چې حالات مې کله سترې کړي ازار شم
ستا تصویر مخې ته ونیسم قرار شم

هم په وینه هم په خوب کښې رایادېږې
زه اوده شمه جانانه که بېدار شم

هغه بیا به مې له حاله خبر نه شي
ورپسې که زه غر غر شم ، اشتهار شم

تـهٔ د مینــې مـزدوري رانــه مــه اخلــه
هسې نه چې بې روزګار شمه ، بې کار شم

کلــه ستــرګې کړې راپورتــه کلــه ټیټــې
زهٔ روان شمــه لــهٔ تانــه کــه ایســار شــم

د جنــګ دواړه لښکرونــه مــې د کــور دي
سخت حېران یم چې د کوم یو طرفدار شم

دومره فن زهٔ هم پهٔ لاس لـرم " انعامـه "
اُمېد شته دے چې د چا خو به پهٔ کـار شـم

❁❁❁

***

د زړهٔ زور يې راله کم کړو ګېرچاپېر دي
زړهٔ مې يو دی پهٔ سينه کښې ښکلي ډېردي

تورې سترګې کـه د يـار دي بلاګانـې
تـور بـانهٔ يـې د جلاد نـه هـم ورتېـر دي

يـا بـه مرمـه يـا بـه سـم لېـونی کېږم
ښکليه ستا اشارې چرته کښې د خبر دي

د فـراق مـوده دې دومـره ډېـره وشـوه
تـهٔ مـې کلـه وې ليـدلی رانـه هېـر دي

وخـت لمنې بيـا رابـڼه کړلـې " انعامـه "
د کيکر غونـدې ازغـي يـې رابرسېـر دي

## دُعــا

تهٔ پهٔ کوم ځاے کښې چې اوسې ، هغه ځاے درته ګلزارشـه
پسرلي درته محتاج شه ، هر يو ګل دې منت بار شـه

د ستا هر نظر د وړاندې ، د جنت ښکلے منظر شه
د ګلونـو نـه پېـرلے ، ستـا د سترګـو هـر نظـر شـه
ستا پهٔ شونډو دې ګويا وي ، د ژوندون خوږې سندرې
د راحت د ساز نه ډکې ، د سکون خوږې سندرې
د ستا سپينې سپينې لېچې ، د بنګړو نه خالي مه شه
او بنګړي دې د سازونو ، د نغمو نه خالـي مـه شـه
ستا د هر قدم نه لاندې ، د بخملو خور قالين شه
چې پرې نرم نرم ګرځې ، هر قدم کښې دې تسکين شه
د بدن لهٔ خوشبويۍ دې ، هره لار خُمار خُمار شه
پسرلي درته محتاج شه ، هر يو ګل دې منت بار شـه

ستا په غاړه کښې دې زانګې ، د رنګونو امېلونه
د امېل په هر يو ګل کښې ، په لکونو نګهتونه
هر ساعت دې رابلېږي ، ستا په ټنډه کښې لمرونه
د لمرونو په رڼا کښې ، تېروي چې خپل وختونه
ستا په خوا کښې دې الوځي ، د خندا مرغۍ جانانه
د مستۍ په رنګ لړلې ، د ښکلا مرغۍ جانانه
د وفا هيلۍ دې لامبي ، ستا د ځسن سمندر کښې
د کمال هُنر دې اوسي ، ستا د حسن جادوګر کښې
د ښائست بيرغ دې ياره ، چېرې هم مه راګوزار شه
پسرلي درته محتاج شه ، هر يو ګل دې منت بار شه

بدنصيبه دې نۀ غواړم ، بې ترتيبه دې نۀ غواړم
په يارانو اباد اوسې ، بې حبيبه دې نۀ غواړم
په ژوندون بې قرارمه شې، محتاج مه شې ازارمه شې
يو ارمان يوې تمنا ته ، بې بس مه شې لاچار مه شې

د غمونـو بارانونـه ، دې پـهٔ سـر بانـدې رامـه شـه
د دردونـو تندرونـه ، دې پـهٔ سـر بانـدې رامـه شه
پهٔ ځنګل کښې د حالاتـو ، دې زمرئ لهٔ خدایه غـواړم
د پنجـو پهٔ کمالاتـو ، دې زمـرئ لـهٔ خدایـه غـواړم
د " انعام " خوږه جانانه ، شین اسمان دې طرفدار شـه
پسرلي درته محتاج شه ، هر یو ګل دې منت بار شـه

***

Pukhto.Net
پښتو

رشتـه زمـونږه داسـې لکـه زمکـې د اسمـان
فاصلـه زمـونږه داسـې لکـه زمکـې د اسمـان

د یـو بـل نـه بغیـر بـه پـاتې نـهٔ شـو زهٔ او یـار
واسطـه زمـونږه داسـې لکـه زمکـې د اسمـان

که ډېر یو سره لرې خو بیا هم وینو یو بل
قیصه زمونږه داسې لکه زمکې د اسمان

د ظلم باوجود مو هم رښلې نهٔ دي څوك
صِله زمونږه داسې لکه زمکې د اسمان

رازونه مو " انعامه " دي ساتلي پکښې ډېر
سینه زمونږه داسې لکه زمکې د اسمان
***

Pukhto.Net
پښتو

تا چې پهٔ سترګو کښې دي کله راکتلي غلي
ما دي خندلي اول ، بیا مې دي ژړلي غلي

غم د جانان که د جهان یې درے اخیستے پهٔ سر
د غرهٔ پهٔ سر باندې چې ناست دي څوك ختلي غلي

زما تصویر ، زما لهجه چې درنه هېره نهٔ شي
زما لباس کښې دي نور خلق راوتلي غلي

Pukhto.Net

خدایه چې بیا کله راځي ډېر یې پهٔ شور راولې
د مجبورۍ لهٔ غمه کور نه چې وتلي غلي

" انعامه " وینبې وینبې شپې یو پهٔ تا نهٔ تېرېږي
د ستا پشانې داسې ډېر لوګېږي غلي غلي

***

نهٔ يمه خفه که ساه مې لاړه ستا پـهٔ ورهٔ اخـر
ستا د حُسن زور خو به پهٔ چا باندې وتهٔ اخـر

ښهٔ پهٔ دا پوهېږم چې انسان يې خو پوره نهٔ شومه
ستا پـهٔ لـوري ولـې قدمونـه شـي درانـهٔ اخـر

زهٔ هـم دړدېـدلے لـهٔ دنيـا ، لـهٔ دنيـا تـهٔ بېـزار
راشـه د دنيـا دپـاره يـو شـو زهٔ او تـهٔ اخـر

ډېره که درنه وه د اوښانو د خوراك چې شوه
پاڼـو نـه د ونـې بـه هـر ښـاخ لغړېـدهٔ اخـر

Pukhto.Net

جوړ د سیند پهٔ غاړه چې د شکو نه " انعامـه " وو
دا کـور بـه سېلاب د بـدبختئ پـهٔ مخـه وړهٔ اخـر

***

Pukhto.Net
پښتو

چې يې پاتې نهٔ شو تاو د حُسن اورکښې
آئينـه پـهٔ کاڼـو ولـي اوس پـهٔ کـور کښـې

يـو د حُسـن پـهٔ وسلـه راپانـدې بـر دي
ګنـې کم نـهٔ يـو د ښکلـو نـه پـهٔ زور کښـې

چې نکیر منکر مې نـهٔ چېړي بیـا هلتـه
ښخ کړئ ما سره د یار تصویر پهٔ ګور کښې

یو د ستا د بنګړو شور ته خوب مـزه کړي
ګنې چا خوبونه کړي دي پهٔ شـور کښـې

چـې لحـاظ د یـارانې ساتـې " انعامـه "
فرق مې کړے نهٔ دے بیا پهٔ سپین او تور کښې
***

چې د ستا پهٔ ورهٔ تېرېږم ، زړهٔ مې رپـي
د جلال نــه دې یـرېږم ، زړهٔ مــې رپــي

Pukhto.Net
پښتو

ستا تصویر ته مې کتل چې په ژړا شوم
ما وېل اوس لېونے کېږم ، زړهٔ مې رپي

چې جانان پهٔ سوداګر نظر راګوري
خدایه ! زهٔ لکه خرڅېږم ، زړهٔ مې رپي

ښکلیه ! بیا دې در ته راشم قسم مات کړم
پهٔ قسم چې څو ټینګېږم ، زړهٔ مې رپي

Pukhto.Net
پښتو

ما " انعام " ته پهٔ نظر کښې پناه راکه
ګنې لاړمه ورکېږم ، زړهٔ مې رپي

***

خوبونه چرته دي په اوښکو وران تقدیر جوړوم
زهٔ خو جانانه ټوله شپه د ستا تصویر جوړوم

دغه ماحول سره خو ډېره زندګي ګرانه شوه
خپلې رښتیا قیصې ته هم خدایه تفسیر جوړوم

لهٔ زړهٔ مې اوباسه د وینو نه لړلے خنجر
بیا مې خولهٔ ماته کړه که وچ پهٔ وچه ویر جوړوم

هر سړے ځان ته درے لګیا د وطن خیال نهٔ لري
د قام تقدیر ته به د چا سره تدبیر جوړوم

هسې خو نهٔ راځي یو ښکلے هم زما حُجرې ته
" انعامه " خدائے کړې لهٔ ځان به ورته پیر جوړوم

***

تاته درروان وم په درتلو کښې پاتې شـوم
وخت مې لاره ونیوه ، سلګو سلګـو کښې پاتې شـوم

ستـا د محبـت پـه سمنـدر کښـې سـاحل رانغـے
ډوب شوم چرته لرې په چپو چپو کښې پاتې شوم

ښه ده چې دې سترګې ټیټې کړې کرم دې وکړلـو
غشي برابر وو په ویشتو ویشتـو کښې پاتې شـوم

ما هم یو وجود لره، معنی مې وه ، مطلب مې وو
لفظ جوړېدے شوم خو نقطـو نقطـو کښې پاتې شـوم

Pukhto.Net
پښتو

اوس خو لا تقسيم شوه حوصله مې نوره زياته شوه
څۀ وشول " انعامه " که ټُکړو ټُکړو کښې پاتې شوم

***

اواز راکــه د درد پــۀ کــربلا مــزل کومــه
پۀ غبېږ کښې د څـوپنې پـۀ صحـرا مـزل کومـه

خوراك د زړۀ خوراك ، اوبۀ د اوښکو ورم پۀ لاره
د عشــق د مسافــرو نــه جُــدا مــزل کومــه

چې کوم طرف ته ځمه هره لار ستا پۀ طرف ځي
اوس وايه پۀ کوم لور به بې لۀ تا مزل کومه

پۀ بل وطـن چـې اوسمـه سهـي پـۀ لاره ځمـه
پۀ خپـل وطـن چـې ګرځمـه خطـا مـزل کومـه

---

Pukhto.Net پښتو

پـرون پـهٔ راهزنانـو کـوم رهبـر ومـه خـرڅ کړے
روان يمـه هغـهٔ پسـې نـن بيـا مـزل کومـه

د غنې پهٔ تار پرېښودم حالاتو ژوندانهٔ ته
" انعامه " پهٔ مشکله نن سبا مزل کومه

Pukhto.Net
پښتـو

## مـجبـوري

منمه تا سره مې کړې وعدې هېرې کړلې
تا سره کړې د وفا مې قيصې هېرې کړلې
منمه ما به ستا د حُسن تعريفونه کول
منمه ما چې ستا د مخ پلوشې هېرې کړلې

منمه ما به ستا پهٔ زلفو کښې ټومبل ګلونه
منمه ما به همېشه تاته دروړل ګلونه
منمه تا سره به ناست وم څنګ پهٔ څنګ پهٔ مینه
ماته به تا ، تاته به ما دربوېَول ګلونه

منمه ما به د ستا هره ورځ لیدلې سترګې
منمه ما به همېشه ستا یادولې سترګې
منمه دا چې همېشه د محبت پهٔ رانجو
تاله به ما پهٔ مینه مینه تورولې سترګې

د ستا ګیلې د محبت او د وفا شېرینې !
واړه پهٔ حقه دي منمه یې زما شېرینې
ټولې مې یادې دي پهٔ زړهٔ کښې یې سنبالې لرم
ما غورځولې نهٔ دي هېڅکله پهٔ شا شېرینې

Pukhto.Net

خو دا چې تل چاودنې کیږي څنګه مینه وکړم
دا روزانه چې اور بلیږي څنګه مینه وکړم
دا چې الوزي پهٔ بمونو باندې ورونړه زما
دا مې چې تل خلق قتلیږي څنګه مینه وکړم

دامې چې نن ورور د ورور لهٔ لاس مري پریشان به نهٔ یم
پهٔ دې ناجانړه غوندې جنګ باندې حیران به نهٔ یم
زهٔ چې نن نهٔ ژاړمه بیا به کله ژاړمه زهٔ
زهٔ چې نن نهٔ ژاړم پښتون او مسلمان به نهٔ یم

یو خوا مې کلي سوزي بل خوا مې ښارونه سوزي
سمه مې سوزي پهٔ بارودو باندې غرونه سوزي
سپرلي مې سوزي ، چمنونه مې لوګي لوګي شول
نښتر مې سوزي ، چِنار سوزي ، ګودرونه سوزي

اوس وایه ستا د بنګړو شور ته ګډا وکړي" انعام " ؟
که نه پهٔ ویر د خوښندو مېندو ژړا وکړي" انعام " ؟
ستا د مُسکو شونډو نه سل ځله قربان شېرینې !
خو تهٔ پخپله انصاف وکړه خندا وکړي " انعام " ؟

***

تم مې کړه پرې نهٔ وځم صنم ! لانـدې
زمکــه مـــې ښـــوئېږي د قـــدم لانـــدې

مــا د زړهٔ پــهٔ داســې پــالنګ کېنــوهٔ
پاسه پرې بخمل پـراتهٔ ، ورېشم لانـدې

ستــا مینــه وه ماتــه د شیشــې دېــوال
پـاس بـه چــې ختــم رانښوئېــدم لانــدې

کلــه کلــه ســوچ کــوم د ځــان ســره
زمکــه ولــې نــهٔ چــوي د ادم لانــدې

څــهٔ کــول پــهٔ مــا دلتــه " انعامــه " چــا
زهٔ یــو پــرې منډهٔ وم وچېــدم لانــدې

***

Pukhto.Net
پښتو

پهٔ ما ګران یې څومره ؟ ګرانه ! تپوس وکه
پهٔ وطن کښې لهٔ هر چانه تپوس وکه

" یادوه مې مه ، پخپله به دې هېر شم "
دا خو تهٔ وایې لهٔ مانه تپوس وکه

محبت خو د هر چا یو ضرورت دے
ماته مه ګوره لهٔ ځانه تپوس وکه

وینبې شپې مې پهٔ نصیب دي خوب مې نهٔ شته
لیونے ذې کړم ارمانه ، تپوس وکه

چې قیصه ختمه شي څوك ورباندې ګران دے
نن " انعامه " د اشنا نه تپوس وکه

***

Pukhto.Net

عقل کار نهٔ کوي هم جنون خطا دے
عجيبه دے امتحان سکون خطا دے

غمازګره زمانه يې کړه خوشحاله
نهٔ دې ګرځي پهٔ صحرا مجنون خطا دے

پهٔ بل چا باندې به هسې ژوندون خوار کړې
ستا د حُسن د کتاب ترون خطا دے

د جانان طلب يې لا سيوا کړي زړهٔ کښې
هغه څوك چې جوړوي بېلتون خطا دے

Pukhto.Net
پښتو

عاجزي به دې " انعامه " شرمنده کړي
ماتوه یې دا د نفس قانون خطا دی

***

چې ګرېوان یې سلامت دی جنون بل دی
دا مجنون د لیلا نهٔ دی مجنون بل دی

ماته مه د زمانې پهٔ سترګو ګوره
زما ، ستا تعلق بیل دی ، تړون بل دی

خدای خبر چې جانان څهٔ وربانديې وکړل
لهٔ ما تلی رېبار بل وو راستون بل دی

Pukhto.Net

شهـــادت د وفـــا نـــهٔ پکښـــې قبلیږي
عـدالت کښـې د خوبانـو قانـون بـل دے

نتیجــه بــه یــې بدلــه وي " انعامــه "
سوال بدل دے، ځواب بل دے ، مضمـون دے
***

Pukhto.Net
پښتو

مینــه لاړه ځنګلونــو کښــې مقیمــه شــوه
کرکه راغله راغله زمونږ زړونو کښې مقیمه شـوه

ونــو نــه د کلــي او د ښــار لــهٔ منــارو لاړه
والوته مرغۍ د امـن غرونـو کښـې مقیمـه شـوه

والوتـه د ستـا لـهٔ معطـرو زلفـو والوتـه
پرېوته خوشبو د باغ ګلونـو کښـې مقیمـه شـوه

ما خـو وېل زمـا پـهٔ درد دنیـا بـه راخبـره شـي
چغه مې د کـور پهٔ دېوالونـو کښـې مقیمـه شـوه

Pukhto.Net
پښتو

اوس هم چې څهٔ وایي د ستا ذکر لهٔ " انعام " کېږي
ستا نامه يې داسې پهٔ لفظونـو کښـې مقیمـه شـوه

***

د حُسن پهٔ سپرلي کښې در منظر منظر جانـان
د مینې پهٔ دریاب کښې در ګوهر ګوهر جانـان

زما سره د آس پاس ماحول هم واخیستهٔ اور
چې را مې غے جونګړې ته شرر شرر جانان

دا لږ ساعت ناستے یې راسره دے غنیمت
تم کیږي نه هیڅا سره وزر وزر جانان

حالاتو د چا عشق ، د چا کورونه کړل ویران
شهید د چا خاندان ، د چا پرهر پرهر جانان

ظاهر خو مې پریږده چې پهٔ باطن نهٔ یم ترې پټ
خبر مې دے د هر څهٔ نه نطر نظر جانان

" انعامه " څهٔ حسین یې دے جوړ کړے کائنات
قربان شم صدقه شم لهٔ هُنر هُنر جانان

Pukhto.Net
پښتو

***

منظـر منظـر دلبـر دی او دلبـر منظـر منظـر
منظـر د دې منظـر مـې کړو نظـر منظـر منظـر

په تپې تورې شپې کښې ځان په ځان بلـوي اور
دا څوك جـوړوي پاس د غرهٔ په سر منظر منظر

بـاران کـه تنـده ماتـه کړه د فصـل ، پـهٔ ډګـر
هم جـوړ یـې کړو د خړو کاڼـو غـر منظر منظـر

د ستـــا د جفاګانـــو لـــهٔ رنګونـــو عبـــارت
زمـا د محبـت پـسِ منظــر ، منظــر منظــر

دنیـــا تـــه منظرونـــه جـــوړوي د تماشـــو
زمـا د زړهٔ پرهـر او ستـا خنجـر منظـر منظـر

هغه که د یار کلے دے ، کوڅه ده که یې کور
" انعامــه " پــهٔ بهتــر پســې بهتــر منظــر منظــر

Pukhto.Net
پښتو

## میــنــه

ستا سترګې مې کتلې ، پکښې رو وو مخته تلمه
چې څومـره مختـه تلمـه ، زهٔ بـه لا حیرانېدمـه

خوشبو خوشبو وه لاره ، د لونګ وې پکښې چارې
د رنګ پهٔ رنګ رنګونو ، لولکۍ وې بې شمارې
سپرلے سپرلے موسم وو، هر یو ګل پهٔ ځوانۍ سم وو
هر خوا ته خوشحالي وه ، د اجل لاسو کښې غم وو
پهٔ ګلو د شړشمو ، د هوا مستې چپې وې
د توت دسیوري لاندې، اودې شوې سرې غرمې وې
دریاب کښې د جذباتو ، د احساس پهٔ سمندر کښې
توده غوندې ځواني وه ، لکه تاو وي پهٔ پرهر کښې
پهٔ رقص زندګي وه ، خوشحالي وه خوشحالي وه
غُربت نېست و نابود وو ، بادشاهي وه بادشاهي
وه
پهٔ دې ښکلي منظر کښې ، زهٔ جانانه ورکېدمه
چې څومره مختـه تلمه ، زهٔ بـه لا حېرانېدمه
د زانـو قطارونـه ، پکښې تلل بـه او راتلل بـه
جوپې جوپې تنزري ، پهٔ نازونو ګرځېدل به
تاڑو پکښې د مینې ، د خندا سندرې ویلې

فاختې پکښې د مینې ، د وفا سندرې وېلې
طاؤس پهٔ ترنم کښې ، څهٔ شاهکار سندرې وېلې
هیلۍ د اوبو ډنډ کښې ، لاپروا شان لمبېدلې
څهٔ خوف خطر یې نهٔ وو ، ډوبېدلې ، راوتلې
شاهین د تېز نظر خپل ، برتري بیانوله
هُدهُد د ښکلي تاج خپل ، سرداري بیانوله
د حُسن تماشو ته ، چې کتل ما غځېدمه
چې څومره مخته تلمه ، زهٔ به لا حیرانېدمه

Pukhto.Net
پښتو

مجنون مې پکښې ولید، د لېلاسره پهٔ څنګ کښې
کامیاب پهٔ نظر راغلل،ماته دواړه دعشق جنګ کښې
فرهاد مې ولیدلو ، چې پهٔ غاړه یې ګلان وو
خندا نه تکه شنه وه ، شیرینۍ موندلې خان وَ
لهٔ مخ نه د آدم هم ، چاپېرچل روښان روښان وَ

د شمعې غونډې بله ، د ډُرخو هم عجب شان ؤ
نظر د سلېمان نه ، د خوښې شغلې وتلې
بلقيس د عشق پۀ باغ کښې،سرې پخې منې خوړلې
لاسونو کښې " انعامه " ، د يوسف وو مشالونه
لګيا وه پۀ رڼا يې ، زلېخې وينځل خالونه
د عشق پۀ دې خبرو ، زۀ خو لا مېنېدمه
چې څومره مخته تلمه ، زۀ به لا حېرانېدمه

❁❁❁

***

روان چې شومه چې کله زهٔ جانانه تا پسې
د خلقــو قطارونــه جوړېــدل پــهٔ مــا پســې

شایــد چــې زمــا یــاد یــې د زړهٔ ور وټکــوهٔ
راوینښــه شــوه لــهٔ خوبــه چــې د زړهٔ درزا پســې

یو زهٔ یم چې پهٔ چا پسې مې تک نهٔ مني زړهٔ
روان دي څوک پهٔ چا پسې او څوک پهٔ چا پسې

اسانــه فارمولــه ده د یــارۍ او د دوستـــۍ
جفـا راځـــي جفـا پســې ، وفــا ، وفـا پســې

نهٔ پیر نهٔ د فقیر او نـهٔ د بـل چـا شتـه حاجـت
رسېږي نـــه دُعــا بلـــه د مـــور دُعــا پســې

---

مجنـــون زمـــا د مینـــې سترې نـــهٔ منـــي هرګـــز
" انعامـه " کـه صحـرا بلـه راځـي صحـرا پســې

***

پهٔ ذکر کښې یې خوند وي هم یې یاد مزه کـوي
د زړهٔ کـور پـهٔ جانـان بانـدې ابـاد مـزه کـوي

خوند نهٔ کوي چې زړهٔ وي پهٔ بل غم کښې پرېشان
خـو یـو پـهٔ محبـت کښـې زړهٔ برباد مـزه کـوي

د هجـر پهٔ صحرا کښې پـهٔ شپېلـۍ د درد و غـم
پــهٔ نیمــه شپــه نــرۍ نــرۍ فریــاد مــزه کــوي

Pukhto.Net
پښتو

د سترګو په کمان باندې په غشي د نظر
چې ولي د زړهٔ باز داسې صیاد مزه کوي

" انعامه " چې انسان څوك قېدوي ظلم کوي
انسان خو په دنیا باندې ازاد مزه کوي

***

دا ادا خوند نهٔ راکوي د سړي
په محبت کښې کنجوسي د سړي

د ستا یادونه د خوشبو غوندې دي
طبیعت یاره ویالوي د سړي

دا ښکلي وغندو که ویې ستایو
زړهٔ امتحان کښې اچوي د سړي

Pukhto.Net

کلــه ناکلــه څــهٔ وئیــل پــهٔ کــار وي
ډېــره ښــه نــهٔ وي خاموشــي د سړي

بــس د اخلاص ســره غوښتنــه غــواړي
پروردګـــار ســـوال قبلـــوي د سړي

چا وېل چې عُمر کمـوي " انعامـه "
مینـــه خـــو عُمـــر زیاتـــوي د سړي
***
مـــوسم ټپـــه د جانـــان واخیستلـــه
ګلاب جامـــه د جانـــان واخیستلـــه

مـا وېـل رنګونـه دې لـهٔ کومـه راوړل
سپرلـــي نامـــه د جانـــان واخیستلـــه

Pukhto.Net

ما وېل د هر چا په زړهٔ داغ ولې دے
هر چا نامه د جانان واخيستله

بيا به مې څو ورځې خوبونه ورک شي
بيا مې تُحفه د جانان واخيستله

زړګيه اوس يې دُښمني ګرانه شوه
رقيب لهجه د جانان واخيستله

را به شي لا " انعامه " شپه پاتې ده
تا وسوسه د جانان واخيستله

***

دُعاګانې به دې وکړم ژوندانهٔ ته
که د زلفو يو تار راکړې ګرېوانهٔ ته

Pukhto.Net
پښتو

د ستا ناز چې ورم خو دا مې کمزوري ده
چې خوا نۀ شم ورکولے بېلتانۀ ته

تۀ چې نۀ يې دواړه غم ، خوشي مې يو وي
لکه يو رنګ چې وي شپه او ورځ ړاندۀ ته

خېر دے خېر دے که زما نظر زخمي شي
خو چې ورسي د ستا بانۀ بانۀ ته

چې پۀ زړۀ کښې دې همت او حوصله وي
پۀ بيمار وجود سړے وخېژي غرۀ ته

تۀ به کوم کوم يو غم وژاړې " انعامه "
لۀ هر لوري پرېوتل دي دريابۀ ته

***

Pukhto.Net

هغه چې نهٔ شته د ماښام نه دروازه پـورې کړم
همزولو ! چا دپاره سترګو کښې رانجهٔ پـورې کړم

څومره پهٔ شوق به دې خوړله نرمه ، ګرمه ، پستـه
ارمان دې راشي چې روټۍ پهٔ تنارهٔ پـورې کړم

د ياد مېلمـه دې راتـه تـل پـهٔ چوکـاټهٔ ولاړ وي
نهٔ ځي ، که ډېره دروازه ترېنه د زړهٔ پـورې کړم

د ستا پهٔ مينه کښـې يـوه بـه رانـه کېږي ضـرور
تا به حاصل کړم يا بـه اور پهٔ ژوندانهٔ پـورې کړم

تر څو "انعامـه " چې وطن تـه بيا راغلـے نهٔ يـې
زهٔ هم تر هغه به نکريزې پهٔ لاس نهٔ پـورې کړم

Pukhto.Net

***

هر سړی د خولې نه توبې باسي وحشت داسې دی
ستا دې لېوني ځسن جوړ کړی قیامت داسې دی

شېخ لۀ جومات راغے ، زاهد پرېښوه مصله خپله
ستا پۀ سپین جبین کښې یې لیدلے جنت داسې دی

نۀ پرېږدوي بل مو د دنیا یو کار ته نۀ پرېږدي
ځار شمه لۀ تانه ستا د مینې حاجت داسې دی

اور به دې پۀ زړۀ کښې وي پۀ سترګوکښې اوبۀ اوبۀ
هېڅ به نۀ پوهېږې پۀ خپل ځان محبت داسې دی

دا ځلې به لرې پۀ ډیوو باندې تیارې نۀ شي
دا ځلې راوړو به ورته لمر ، ضرورت داسې دی

دا ځلې خو ستا د پرهرونو خولې به ور نهٔ شي
دا ځل يې " انعامه " د بنو شرارت داسې دے

## غمجن وطنه !

پهٔ څوارلسم اګست د ايف ايم سراے نورنګ
مشاعره کښې اورول شوے دے ۰ "
انعام "

وحشت او لهٔ دهشت نه يې ورک شوے اطمينان دے
ليلا ليلا وطنه ! ستا مجنون پهٔ بيابان دے

د غم لهٔ غرهٔ دې زمکه د زړهٔ ليکې ليکې لاړه
بدن دې د بوجونو لاندې ستړے دے ستومان دے

مقصد د نظريې دې پهٔ تېرو ټورو زخمي دے
"جناح" او د "اقبال" د خوب تعبير لهولهان دے

د ستا د ازادۍ ورځ پهٔ خوښۍ نمانځلے نهٔ شو
د ستا پهٔ حق نيولي يو خفه رانه اسمان دے

خوبونه د منزل پهٔ کټ کوي د ستا همزولي
منزل پهٔ لور د ستا سفر لا هغسې روان دے

ورواغوستې جامې د رڼا نورو خپل وطن ته
د ستا پهٔ بدن هغه د تيارو لباس عيان دے

دا ستا خلقو ورکړې دي حُليې د خپل مخونو
دا ځکه خو وطنه ! پهچان ستا د دُښمن ګران دے

Pukhto.Net

دا تهٔ یې ، نعمتونه دې سینې کښې راله نغښتي
دا مونږ یو چې مو تاته رسولے هر نقصان دے

مرغۍ د خوشحالۍ درنه پهٔ ورکو سیمو لاړې
چمن دې چمن پاتې نهٔ شو لوګ شولو سنسان دے

د نورو نه خو نهٔ دے خبر څهٔ به درته وایي
وطنه ! ستا " انعام " پهٔ تا مئین ، پهٔ تا قربان دے

❁❁❁

۲۰۱۰/۷/۲۸

***

Pukhto.Net
پښتو

پهٔ دې بازار کښې خو خطرې ډېرې دي
مخونـــه نـــهٔ شتـــه آئينـــې ډېـــرې دي

پـــهٔ يـــوه لاره دوه ځـــل نـــهٔ درځمـــه
يـــاره ! د خلقـــو حـــافظې ډېـــرې دي

د مـــات کنډر نـــه معلـــومېږي داســـې
دلتـــه جـــوړ تېـــرې حـــادثې ډېـــرې دي

ورلانـــدې مـــه کښېنـــه اثـــر دې پکښـــې
د محبـــت ونـــې درنـــې ډېـــرې دي

خـــولهٔ اجـــازت " انعامـــه " نـــهٔ راکـــوي
ګنې پهٔ زړهٔ کښې مې قيصې ډېرې دي

***

پـهٔ زړهٔ کښـې مـې ازغـے دې د ستـا يـاد
جانانـه ! هـائې مـرګې دې د ستــا يــاد

پـــهٔ مـــا شـــو د کالونـــو عمـــر تېـــر
لا هغســـې زلمـــے دې د ستـــا يـــاد

زمـــا د ژونـــدانهٔ پـــهٔ ټنډه تـــــل
رازانکـــې تـــور پېکـــے دې د ستـــا يـــاد

زمـــا ســـره يـــې کلکـــه ده يـــارې
پښتـــون دې مېړنـــے دې د ستـــا يـــاد

د ستـا پـهٔ لــور يــې بيــا کړلــو روان
" انعــام " تــه لېــونے دے د ستــا يــاد

***

د هـــرې تـــرقۍ د سندونـــو باوجـــود هـــم
تکليف کښې دے انسان د راحتونو باوجـود هـم

پښتونـه آفـرين شـه د زخمونـو باوجـود هـم
پهٔ شونډو دې خندا ده د دردونو باوجـود هـم

بيا هم پکښې اوسېږه کور د مينې چې پرې نهٔ ږدې
د ډېـرو اسوېلـو ، د فريادونـو باوجـود هـم

دا عشق څۀ عجیبه دے نۀ پۀ لوے نۀ پـۀ واړۀ دے
مئـن سـره نـزدې کړي د عمرونـو باوجـود هـم

پۀ غـور ورتـه وګـوره د خـان کـور کښې تیـارۀ ده
د هـر دېـوال پـۀ سـر د چراغونـو باوجـود هـم

کمـال د محبت دے چې زۀ تـا او تـۀ مـا وینـې
پۀ مېنځ کښې مـو ولاړ د دېوالونـو باوجـود هـم

"انعامه" ژوندشېرین دے مرګ څوك نۀ غواړي هېڅکله
د رنـځ ، د حادثــو ، د تکلیفونــو باوجــود هــم

❁❁❁

***

انسان نـهٔ زغمـي ، تنکـه شـوه سینـه د زندګـۍ
پرتـــه ده کـــربنې کـــربنې آئینـــه د زندګـــۍ

شـوه غاړه لهٔ مونږ خلاصه د قسمت او د تقدیـر
کـوو بـه د انسـان نـه اوس ګیلـه د زندګـــۍ

د ستا د محبت پـهٔ غیږ کښـې هـم وینـم اجـل
څـهٔ داسـې ترخـه شـوې ده ذائقـه د زندګـۍ

پهٔ زړهٔ کښې مې غړېږي پرېشان غوندې دا سوال
لـهٔ چـا نــه بــه زهٔ غــواړم فېصلــه د زندګـــۍ

د مینـې ګلستـان مـې شـو " انعامـه " پـهٔ نظـر
وه پـــاتې د سکـــون دا باغیچـــه د زندګـــۍ

بدل شولو ، بدله يې کړه لار د محبت
سفر خو دومره هم نۀ وو دشوار د محبت

د ژوند پۀ افسانه کښې دې چې زۀ هم کړم شامل
اوس ماله پکښې را خدايه ! کردار د محبت

لاسونه لا پۀ وينو باندې سرۀ دي د انسان
لا پاتې پۀ دنيا کښې دے ډېر کار د محبت

د يار صفت سره دې روزګار هم کوي شاعر
د نن وخت بدل کړے دے معيار د محبت

" انعامه " خوندور به يې وصال وي دومره هم
چې څومره يې حسين وي انتظار د محبت

***

Pukhto.Net
پښتو

ورانې مې دې جوړې نۀ کړې جوړې مې دې ورانې کړې
ستا دا خنداګانې قسمت ماته بلاګانې کړې

خپله مرضي ښه وه چې راتلې لوظ به دې نۀ کاوۀ
ماته انتظار د ګړۍ ستنې قاتلانې کړې

وچ پۀ وچه څوک شاملوي پۀ ژوندانۀ کښې څوک
ښکلې وې د ستا سترګې مې ځکه پۀ ځان ګرانې کړې

وخته ! کله کله خو يو دم داسې بدل کړې رُخ
ګرانې د پرون قيصې دې نن څومره اسانې کړې

Pukhto.Net

نهٔ مې دي " انعامه " هېرې کړې د جانان زلفې
ګل به ورته وړمه که خدای چېرې رڼاګانې کړې

## تهٔ یو ځلې زما شه

تا خوشحاله به ساتمه ، تا به غم ته نهٔ پرېږدمه
تابعدار به دې اوسېږم ، ډېر خاطر به دې کومه
دا قسم دا مې وعده ده ، تا به نهٔ خفه کومه
خو تهٔ یو ځلې زما شه ، د ستا هر څهٔ به منمه

تاته هر قسمه جامې به ، لهٔ بازاره زهٔ راوړمه
ستا پستو پستو لاسو ته ، بنګړي ښکلي به راوړمه
سپینې غاړې ته ستا هار به ، د سرو زرو جوړومه

تاته کور به ځدا اخلم ، تا به بېل کور کښې ساتمه
ستا به بېله واك او راج وي ، بېل اختيار به درکومه
خو تهٔ یو ځلې زما شه ، د ستا هر څهٔ به منمه

ستا د خولې هر یو فرمان ته ، زهٔ به مخته روستو ځمه
تهٔ به نهٔ کوې یو کار هم ، هر یو کار به زهٔ کومه
تهٔ به ناسته یې پهٔ کټ کښې ، تیار زهٔ به درکومه
ستا سکون دپاره یاره ، خپل سکون به ورکومه
پهٔ همزولو کښې به ستا زهٔ ، قد قامت اوچتومه
خو تهٔ یو ځلې زما شه ، د ستا هر څهٔ به منمه

تا لهٔ لمر به پټومه ، پهٔ تا سیوری به کومه
تا لهٔ یخ به بچ ساتمه ، درته اور به بلومه
ستا مزاج خلاف لهٔ خولې به ، زهٔ یو ټکے نهٔ باسمه
خپله ژبه به کړم ګونګه ، ستا قیصې به بس اورمه
خو تهٔ یو ځلې زما شه ، د ستا هر څهٔ به منمه

---

د ګرمۍ موسم چې راشي ، زهٔ چکر به درکومه
شکرپړیا به درښایم ، هم به مري درښایمه
د چترال سفر به هم وي ، تا به سوات ته هم بوځمه
شنهٔ شنهٔ غرونه د کشمیر به ، ګوت پهٔ ګوته درښایمه
زهٔ " انعام " به دې جانانه ، ټول وطن کښې ګرځومه
خو تهٔ یو ځلې زما شه ، د ستا هر څهٔ به منمه

۲۰۰۳/۲/۳

***

نهٔ هېرېدونکې واقعې غوندې يې
پهٔ زړهٔ مې نقش د حادثې غوندې يې

د اشنـا غمـه ! راشـه ښکـل دې کړمـه
ماتـه خـو تـهٔ هـم د هغـې غونـدې يـې

د ستـا د ذات نـه بهـر نـهٔ شـم وتـے
رانــه چاپيــر د دائــرې غونــدې يــې

د سرې عمـره ! پـهٔ تـا څـهٔ اعتبـار
تېر شې يـو دم ، د اشارې غونـدې يې

" انعامه " غـوښتے يې جانـان لکـه چې
تېز تېز روان خولې خـولې غونـدې يې

***

Pukhto.Net

څهٔ مې پوښتې چې بې لهٔ تانه پهٔ ما څهٔ تېرېږي
ماته کشتۍ مې د ژوندون پهٔ دریابهٔ تېرېږي

خلق د کالونو یاران پرېږدي ، زما دغه حال دے
زړهٔ ورته خورم چې مې تنها پهٔ کور مارغهٔ تېرېږي

د ستا پهٔ باب ترینه پوښتنه مې ضرور کړې ده
ورکه جانانه چې مې څوک د کور پهٔ ورهٔ تېرېږي

غم مې پهٔ ځان باندې هېڅکله دومره نهٔ دے حاوي
خپله که مرم خلقو ته وایم ژوندون ښهٔ تېرېږي

" انعامه " مینه د نازک مزاج جانان داسې ده
لکه پښې ابله څوک چې پاس پهٔ انګارهٔ تېرېږي

***

Pukhto.Net
پښتو

چې رایاده ستا د مینې دښمني شي
دلسوزي مې د خپل زړهٔ پهٔ دلسوزي شي

د ښو سرونه مه ټیټوه لاندې
نرم نرم اننګي به دې زخمي شي

چې پام اونشي د مینې تقاضو ته
هغه مینه تماشه شي ، رسوایي شي

د وطن لارې کوڅې مې پهٔ نظر شوې
هر ساعت پکښې اوس یره د مرګي شي

هوښیاران لهٔ ناکامۍ د ژوند کامیاب شي
ساده ګانو ته ناکامه زندګي شي

Pukhto.Net

چې جانان دې جانان وګڼي " انعامه "
محبت وسعت موندهٔ کړي ، باچايي شي

***

هېڅ مزه يې پاتې پهٔ دنيا نهٔ شي
خدايه څوك دې چاته بې وفا نهٔ شي

ډېر كه ستمګر دي بې وفا كه دي
ښكلو ته خو بيا هم بددُعا نهٔ شي

ځكه دې د خلقو سره نهٔ غواړم
غواړم د دنيا خويونه ستا نهٔ شي

Pukhto.Net

خبـر دی کـه تـهٔ ځــې د زمـانې ســره
یـا زړګیـه ! هېـره دې حیـا نــهٔ شــي

تـا ډېـوه کړه بلـه د اُمېـد ، " انعــام "
اوس دُعـا کــوه چــې هــوا را نــهٔ شــي

***

چپــې چپــې راځــي د سمنــدر غونــدې هغــه
پـهٔ زړونـو کـوي چـارې د کمـر غونـدې هغـه

پهٔ زړهٔ کښې خو مې اوسي پهٔ ظاهره پټ سهي
پـهٔ جـام کښــې د شرابـو د اثـر غونـدې هغـه

Pukhto.Net

لـهٔ هــر وېښتــهٔ مــې وختلــه سترې د وجــود
د ژوند پهٔ کټ مې خور شو د بستر غوندې هغه

لګيا يم جوړوم يې پهٔ بېل بېل رنګ کښې تصوير
لاسونــو تــه مــې راغــې د هُنــر غونــدې هغــه

لهٔ چانه کمه نهٔ خوري پهٔ دولت د خپل ښائست
غـريب دې خـو ګـرځېږي د افسـر غونـدې هغـه

ورکړې لـهٔ هـر چانـه مـې دې اهـم يـو مقـام
جومات کښې مې د زړهٔ دې د ممبر غوندې هغه

" انعامـه " زړهٔ بـه ولـې نـهٔ کـوي زمـا مستـي
نظر ته مې شـو خـور د مازديګـر غونـدې هغـه

***

هغــه دریــاب ، زهٔ پــهٔ مثــال د ګنګخړې یمــه
زهٔ یې د ځـان سـره پـهٔ مخـه بانـدې وړې یمـه

د زلفـو سیـورې پـهٔ مـا وکړه چـې اودهٔ شمـه زهٔ
د محبــت سفــر مــې کړې دې ډېـر ستړې یمــه

دا چې نوکارې لګوي پهٔ ما ډېر خیال دې کـوي
اودهٔ به یم خـو داستې هم نهٔ ده چې مړې یمه

زما دُښمـن کـه ما لهٔ یو او لـهٔ بـل سـر راکـاږي
ګُمان دې نهٔ کـوي چې پرې به شمه پړې یمـه

زما د سترګـو نـه بـه هـم وینـې د غـم راڅاځـي
" انعامه " زهٔ هم د لوټ شـوي کـاروان غړې یمـه

***

دا د نن خبره نهٔ ده چې مې زړهٔ د ستا غلام وو
ما چې ژبه زده کوله نو پهٔ خولې مې د ستا نام وو

محبت څهٔ اسان نهٔ دی ، دا هر څوك کله کوی شي
چا پهٔ دشت کښې پهٔ تودو شګو، لیکلے داپیغام وو

مړه څهٔ مې پوښتې، ولې مې تهٔ پرېښوې لهٔ تا لاړم
نهٔ دې کلي کښې حُجره وه،نهٔ جومات وو نهٔ امام وو

چې مئین پهٔ ژوندانهٔ وو د ژوندون پهٔ ارمان مړهٔ شول
چې د وخت پهٔ هره لاره ، غوړېدلے د مرګ دام وو

Pukhto.Net
پښتو

ماوېل پوړ به شم د ژوند په فلسفه باندې "انعامه"
خو چې ځان ته خبرېدمه ، نو زما عمر تمام وو

***

اول یو کور وو بیا شو کلی بیا ترې ښار جوړ شو
د ستا غمونه زیاتېدل ترېنه بازار جوړ شو

زهٔ چې پهٔ تا پسې پهٔ برچو برچو وژړېدم
چې یې د اوښکو نه پهٔ غرونو کښې آبشار جوړ شو

ما وېل لهٔ ما به ستارې ورې لوټې دپاره
جانان د زرو ، د ګوهرو خریدار جوړ شو

یو اجنبي سره څهٔ داسې سترګې وجنګېدې
دا ملاقات راته د ټول عمر یادګار جوړ شو

Pukhto.Net

د وخـت سرکشـه ډېـر اسونـه پکښـې وترپېـدل
د پښتنـو پـهٔ هـره لاره کښـې ګُبـار جـوړ شـو

د وخت لهٔ جبر ، لهٔ دهشت او وحشتونو لهٔ خـوف
زما وطـن کښې خـو لـهٔ هـر سړي بيمار جوړ شـو

د ماشومتوب وخت چې "انعامه" را پهٔ زړهٔ شو کله
زمـا لـهٔ شـونډو د اهونـو يـو قطـار جـوړ شـو

Pukhto.Net
پښـتـو

❁❁❁

***

هغــه سړی خلـــق لـــۀ ښـــار اوباســـي
پۀ دریـابۀ کښـې چـې څـوك لار اوباسـي

هغه پۀ دې نۀ ده چې څومره مړۀ شـول
خـــو لـــۀ قاتلـــو ښـــو کـــار اوباســـي

لمر چې راخېژي نـور بـه هېـڅ اونکړي
هســـې بـــس مـــا لـــۀ انتظـــار اوباســـي

د پښتنـــو پـــۀ سیمـــې چرتـــه راشـــه
چې خـولۀ دې څومـره آه و زار اوباسـي

د یار دیدن ټوله شفا شفا ده
" انعامه " تبه لۀ بیمار اوباسي

***

که نهٔ درحٌم خو بیا هم د درتلـو ضرورت پیښ شـي
چې ډېر شې را پهٔ زړهٔ ستا د لیدو ضرورت پیښ شي

راجمع ستارې مې پهٔ دا خیال کړې چې کېدې شي
جانـان تـه پـهٔ رنګینـو لوپټـو ضـرورت پیـښ شــي

چرچڼـو دومـره هـم بربـادوئ مـه د چـا فصـــل
مالك تـه هسې نه چې د لیندو ضرورت پیښ شي

پهٔ شونډو دې انکـار کلـه اقـرار ، وضـاحت غـواړم
لفظونـه چې مبهم شي د معنـو ضـرورت پیـښ شــي

پستو نازکو پښو ته به يې هره لار قالين کړم
" انعامه " که جانان ته د راتلو ضرورت پیښ شي

***

پېغور مه راکوه تهٔ دې خوشحال زهٔ دې غمجن يم
ستا ښار به وي حسين خو زهٔ په خپل کلي مئين يم

که تهٔ د ښائستونو د غرور په تخت بادشاه يې
خو زهٔ هم ډېر خوشحال په مملکت کښې د خپل فن يم

نفرت وېل چې د پوره خلقو په زړهٔ کښې ولې اوسم
دا پوره خلق خو پوره دي په ما څومره چې پمن يم

سيلۍ مهرباني کوه چې تېزه خو را نهٔ شې
پرېوځم کښېنولې وخت په سر باندې د ستن يم

Pukhto.Net
پښتو

زهٔ څـهٔ وکړم ناصحـه محبـت مـې کمـزوري ده
راغلـے لـهٔ ازل د نفرتونـو چـې دُښمـن یـم

تـر اوسـه د خاطـر دروازه بنـد چـا لـهٔ مـا نـهٔ ده
چې سترګه د صبا یم ، نـهٔ ماښام نـهٔ ماسخـوتن یـم

پـهٔ دغـه زمانـه کښـې د اللـه مهربانـي ده
نهٔ غل یم نهٔ شوکمار یم نـهٔ " انعامـه " دروغجـن یم

***

Pukhto.Net
پښتو

## حضرت حُسېن رضی اللّه عنه

که مرګ دے خومرګ دے پهٔ حقیقت کښې دحُسېن رض
راز پټ دے د ژوندون پهٔ شهادت کښې د حُسېن رض

تاریخ یې راته څکه پهٔ هر کال رایادوي
سبق دے د خودۍ پهٔ بغاوت کښې د حُسېن رض

❁❁❁❁❁

بیت :

صدۍ شوې تېرې خو رواج د قابیل ختم نهٔ شو
اوس هم لګیا دی ولي هر آدم ، آدم پهٔ کانړو

***

زمـا د حالــه ناخبــر تېــرېږي
ګنــې پهٔ لاره مــې اکثــر تېــرېږي

وکړه پــهٔ مــا د لــوېټې سیــوری تــهٔ
ډېــر پــهٔ غرمــو د ژونــد سفــر تېــرېږي

قسم دی تـل مـې ستـا ګمـان پـرې کړی
چې مې پهٔ کـور شمـس و قمـر تېـرېږي

د بېلتـــــانهٔ اذیّـــــت دغســـــې دی
لکــه پــهٔ زړهٔ دې چــې خنجــر تېــرېږي

د تېرې زمکــې لــهٔ زړهٔ خــدای خبــر دی
وربخځې چې ځي د غرهٔ پــهٔ سر تېرېږي

" انعامــه " مــه کړه دومــره قــدر د چـــا
چـــــې بلا وجـــــه مـــــرور تېـــــرېږي
***
ستـوري زمـا صفـت کـوي ، زمـا خبـرې کـوي
پــهٔ دې کښــې هــم لا مــرور اشنــا خبــرې کــوي

سپوږمۍ ثابته کړه چې څوك هم بې لهٔ یاره نهٔ مري
چې لهٔ کوم وخت د ځان سره تنها خبرې کــوي

Pukhto.Net
پښتو

تاته چې ګل او د سپوږمۍ سره تشبیه درکوي
دا نـــاروا دي خلـــق ولـــې دا خبـــرې کـــوي

اے د ارمان ډیوې لا مړه ښه یې چې بله نهٔ شې
نن څهٔ پهٔ بل انداز د وخت هوا خبرې کوي

"د پښتنـــو پـــهٔ سیمـــې اور بلـــوئ اور بلـــوئ"
قسم لهٔ دې که پهٔ بـل څـهٔ دنیـا خبـرې کـوي

څهٔ رنګ چې تهٔ پهٔ وینښې شپې د چا خبرې کوې
" انعامه " داسـې بـه هغـه پـهٔ تـا خبـرې کـوي
***

د حُســـــن ، د ادا ، د نـــزاکت جُـــدا جُـــدا
شېرین شېرین جانان لـري خـوږلت جُـدا جُـدا

جانان که يادومه هېر مې هم نهٔ دے جهان
هر چا سره کومه محبت جُدا جُدا

څوك ژوند وركوي چاله څوك د چانه اخلي ژوند
انسان كوي لګيا دے عبادت جُدا جُدا

پهٔ شكل او صورت كښې برابر دي زهٔ منم
اولاد د آدم يو دے خو خصلت جُدا جُدا

روان يو تقسيمېږو پهٔ بېل بېل امام پسې
اللّه دپاره بس كړئ امامت جُدا جُدا

څوك مال غواړي " انعامه " څوك طلب د محبت
وركړے خدائے هر چاته دے حاجت جُدا جُدا

Pukhto.Net

***

شپونکي ته حواله دي پۀ اسمان کښې مزلونه
زمونږ به ولې نۀ وي پۀ خفګان کښې مزلونه

ترتيب سره چې نۀ وي بې ترتيبه به اوسېږي
کارۀ وارۀ کوي به پۀ جهان کښې مزلونه

تۀ لاس مې پۀ سر کښېږده بيا مې وګوره جانانه
چې څۀ رنګه کوم پۀ بيابان کښې مزلونه

د ستا ګلاب مخ نرګسي سترګې چې وينم
رالګي چې کوم پۀ ګلستان کښې مزلونه

تړلې دې د زلفو پۀ زنځير يم چرته تلې شم
قېدي نۀ شي کولې پۀ زندان کښې مزلونه

Pukhto.Net
پښتو

د اوښکـو د ډیـوو سره د یـار پـهٔ لـوري ځمـه
" انعامه " خوند کـوي پهٔ چراغان کښې مزلونـه

***

Pukhto.Net

د مال فکر لاحق چاته د ځان فکر لاحـق دے
هر چاته اوس لهٔ یرې د امـان فکـر لاحـق دے

د دې دور سیلاب پـهٔ مخه څومره خلـق یـووړل
بدبختـه تاتـه لا هـم د مکـان فکـر لاحـق دے

مرغۍ ګرځي راګرځي شور کوي پاس پهٔ منجالـو
شاید ورته ځنګل کښې د طوفان فکر لاحـق دے

هـر چـا چـې د بـارودو انبارونـه ضـروري کړل
تباه یې نهٔ کړي ، ماته د جهان فکر لاحـق دے

" انعامه " پهٔ جنون کښې خلق څومره تاواني شـول
چې تاته ګورم تاتـه د ګرېـوان فکـر لاحـق دے

***

مجـرم دے زمـا زړهٔ کـه د ستـا حُســن قصـوروار دے
راځــه چــې فېصلــه وکړو پــهٔ چــا دې اعتبــار دے

رایـادې هغـه شپـې کـه چـې بـه تـا پکښـې کولـې
اوس وایې زړهٔ دې ورک شه چې نهٔ کلے دے نهٔ ښار
دے

پهٔ باغ کښې مې جانان چې د ګلونو مېنځ کښې خانـدي
هېڅ فرق کولے نهٔ شم چې ګل کـوم دے کـوم مې یـار دے

د ځان سره ګونېږي پکښې هر سړی تنها دی
هجوم داسې هجوم چې په قطار پسې قطار دی

دا کم زما نظر شولو چې مخ پکښې نۀ وینم
که نه پروت د دنیا د آئینې پۀ مخ غُبار دی

دا نن چې بې د واره خلق مري پکښې " انعامه "
دا جنګ دا راته ښايي چې مرګ کله پۀ خپل وار
دی

Pukhto.Net

مسافرو! نااُمېده نۀ شئ

داسې به نۀ وي مزدوري مدام پۀ بل وطن کښې
وه مسافرو ! نااُمېده نۀ شئ
یوه ورځ به راشي چې مزې به وي پۀ خپل وطن کښې
وه مسافرو ! نااُمېده نۀ شئ

تل به لهٔ خپلو جــدايي نهٔ وي
تل خو به دا مسافــري نهٔ وي
مدام به ورکه خوشحالي نهٔ وي
صبر کوئ خفګان به نهٔ وي داسې تل وطن کښې
وه مسافرو ! نااُمېده نهٔ شئ

هر څـــهٔ دپاسه نه پهٔ نــام دي
څوك پهٔ زحمت څوك پهٔ ارام دي
دا ګــردشونــه د آيـــام دي
د چا ژړل پهٔ بل وطن ، د چا خندل وطن کښې
وه مسافرو ! نااُمېده نهٔ شئ

دغه پهٔ لاس د مزدورۍ کرښې
دا د غربت د مجبورۍ کرښې
د ذلالت او بې وسۍ کـــرښې
ژوند به شي ښکلے د دې کرښو پهٔ بدل وطن

کښـــــــــــــــــــــــــــــــــــې
وه مسافرو ! نااُمېده نهٔ شئ

خپل قسمتونه پهٔ محنت جوړ کړئ
موقع ضائع نهٔ کړئ عزت جوړ کړئ
څهٔ خامخا لهٔ دې هجرت جوړ کړئ
بیاچې بندېزنهٔ وي چې څهٔ موهم غوښتل وطن کښې
وه مسافرو ! نااُمېده نهٔ شئ

Pukhto.Net
پښتو

" انعام " لهٔ زړهٔ نه دا دُعا کوي
دُعا لهٔ خــلقو نه جـدا کــوي
یو وار یې نهٔ کوي بیا بیا کوي
هر مسافر چې پهٔ خندا اووینم خپل وطن کښې
وه مسافرو ! نااُمېده نهٔ شئ

***

ځغل سمندر ته وروهي نن يې چپې هېروي
دا سوزېدلے څوك چې ستا د مخ لمبې هېروي

ماته چې شپه شي ستا د مينې قيصې لا يادېږي
خلق اودهٔ شي ټول ، د ورځې قيصې شپې هېروي

خدايه پهٔ خپل فضل يې راولې زمونږ سيمې ته
پهٔ ښکلو نهٔ شته اعتبار ، ښکلي وعدې هېروي

دلته رشتې جوړوي هر څوك د دولت دپاره
دلته دولت دپاره هر سړے رشتې هېروي

بې وفا تا کړمه تقسيم زهٔ " انعام " يو پهٔ دوه کښې
چې زهٔ توبې کوم لهٔ تا ، زړهٔ مې توبې هېروي

## مـــاتې

زړهٔ کښې مې ستا خواږهٔ يادونه وي تل
قدم مې ستا پهٔ لوري درومي اشنا
ګوتې مې هر وخت ستا تصوير جوړوي
سترګو کښې تل مې د ستا مخ ګرځيږي
خيال مې ملنګ دے ياره ستا کوڅه کښې
پهٔ ژبه تل ستا وظيفه کومه
پهٔ بدن هغه رنګ جامې اچوم
چې کوم رنګونه تاله خوند درکوي
د هغو خلقو منتونه وړمه
د چا سره چې محفلونه کوې
هغه موسم مې د مزاج موسم دے
کوم چې د ستا د زړهٔ تارونه چيړي
هغه رواج مې مقدس ګڼلے
چې اطاعت يې تا پهٔ جار کړے دے

تا فرمائش چې د ګلاب کړې دې
ما درله واړه ګلستان راوړې
تا فرمائش چې د ډیوې کړې دې
ما خو آفتاب او هم مهتاب راوړې
تا به چې یوه قطره د وینې غوښته
ما د بدن دې هر یو رګ پرې کړې
تا چې جانانه رانه څۀ غوښتي دي
ما تصور د انکار نۀ دې کړې
چې تۀ به ناست وې سر به ښکته وو ما
چې تۀ به تلې زۀ به پۀ ځاې ولاړ وم
چې تا به وېل خاموشي خوند راکوي
ما به پۀ ستوني کښې ایساره کړه ساه
ما دې جانانه دومره خیال ساتلې
ځان مې ټول تاته وقف کړې که نا ؟
د دغه دومره محبت باوجود
اوس مې که بیا هم خپل جانان نۀ ګڼې

نو د ستا ظرف مبارك شه تاته
زهٔ به پهٔ خپلې مينې ناز كومه
خو چې جانانه څومره وخت تېرېږي
ستا د عزت ګلان به پاتې نهٔ شي
تهٔ به ظالم او بې وفا يادېږې
زهٔ به مخلصه وفادار يادېږم
تاته به خلق بددُعا كوي تل
او ما " انعام " ته دُعاګانې به وي
تا به ګټلې وي خو او به بائيلې
ما به بائيللې وي خو او به ګټم

❁❁❁

Pukhto.Net

## مــزدور جــانــان

زړهٔ مې پرې کوي چې د ستا ګوتې پرې پرې وینمـه
سترګې مې شي سرې چې د ستا سترګې سرې سرې وینمـه
وه زما مزدور جانانه !
وه زما مجبور جانانه !
خواره زنـدګي تېــروې
ډېـره بې وسي تېــروې
اوړے وي کـه ژمے وي ، ږلـۍ اوري کـه وي بـاران
تـهٔ پـهٔ ارام نـهٔ شـولې سیلـۍ وي او کـه وي طوفـان
تهٔ فارغ خپل ځان ته نهٔ شوې
یو ساعت جانـان ته نهٔ شوې

ژوند زخمي زخمي تېـــروې
ډېـــره بې وسي تېــــروې
ته چې داسې نه کوې غريب يې څه کوې نه شې
ته چې داسې نـه کـوې ښادي او غم پالې نـه شې
ګېر په امتـــحان کښې يې ته
ړوند او کوڼ جهان کښې يې ته
عمـــر ارمـــاني تېـــروې
ډېـــره بې وســـي تېـــروې
دلتــه خــو ګنــاه ده غريبـــي ، غـــريبت جـــرم دې
دا خــو لا پـرېږده چـې د غـريب وكـالت جـرم دې
ډېر درته څورېږي " انعام "
ډېر درته دردېږي " انعام "
څومـــره غمجني تېروې
ډېـــره بې وسي تېـــروې

❁❁❁

***

اوس چې څهٔ کېږي هسې هم دا الزام راغے پهٔ ما
دروازه خلاصــه كــه جانانــه ماښــام راغــے پــهٔ مــا

څومره يادګار غونډې منظر دے ، لهٔ ما تللے جانـان
لـهٔ دنيـا بېرتـه ټيټـې سترګې ناکـام راغـے پـهٔ مـا

پهٔ مېخانه کښې هم کرم پاتې قسمت وچې شونډې
چـې د شرابـو نـه خالـي شولـو جـام راغـے پهٔ مـا

ګلابي شـونډې ، سترګې تورې مې تصوير جـوړوهٔ
قدرت ته ګوره شونډې سرې مې ګلفام راغے پهٔ ما

Pukhto.Net
پښتو

"زړهٔ مې درزا کوله هېڅ هم پهٔ ځان نهٔ پوهېدم"
وېل یې همزولو ته "پرون چې "انعام" راغے پهٔ ما

***

دومره مینه ناك شه دښمنان دې چې تعریف وکړي
داسې خوشبودار شه ګلستان دې چې تعریف وکړي

تېره کړه پهٔ زمکې زندګي داسې مخلوق سره
پاسه ملائیکو ته اسمان دې چې تعریف وکړي

وژاړه د یار پهٔ غم کښې داسې سترګې وژاړه
وربځې دې صفت وکړي ، باران دې چې تعریف وکړي

داسې دې بلد که طبیعت د هر موسم سره
ننګ پهٔ تا سپرلے وکړي ، خزان دې چې تعریف وکړي

مور مې که جانانه نن په داسې رنګ وصال باندې
زهٔ دې احسان مند شمه ، هجران دې چې تعریف وکړي

مه غواړه " انعامه " لهٔ هر چانه پرې داد مه غواړه
داسې غزل لیکه شاعران دې چې تعریف وکړي

***

پهٔ ارام کښې مې خلل شه
د زړهٔ کور مې لوټ که غل شه

د ریاضۍ پېچیده سوال یې
خدائ دپاره چېرې حل شه

چې دښمن د محبت دي
ترې مخ واړوه بدل شه

Pukhto.Net

چې منزل دې پښو کښې پرېوځي
دا همـــت داســـې مــــزل شـــه

د تيـــارو پـــهٔ وخـــت " انعامـــه "
د مشـــال پـــهٔ شـــانې بـــل شـــه

***

Pukhto.Net
پښتو

بيـــا د ستـــا يادونـــه دي او زهٔ يمـــه
رنـګ پـهٔ رنـګ سوچونـه دي او زهٔ يمـه

نور راسره څوك کمره کښې نهٔ شته دي
يـــو ستـــا تصويرونـــه دي او زهٔ يمـــه

خیال کښې دې د زلفو سره چېړمه
دا زما خوندونه دي او زهٔ یمه

بل یو کارمې خدای شته چې اوس نهٔ شته دی
بس ستا تعریفونه دي او زهٔ یمه

دواړه د یو بل سره تړلي یو
دغه د یار پلونه دي او زهٔ یمه

هجر دی ، ستا یاد دی او د سیند غاړه
څې راځي موجونه دي او زهٔ یمه

څهٔ ښکلې " انعامه " کاروبار کوم
دا محبتونه دي او زهٔ یمه

❁❁❁

## نشه

ولې زندګي مـو کړلـه خـواره نشـه مـه کـوئ
اې د قام زلمیو ! خدای دپاره نشـه مـه کـوئ

ولې تندرونـه پـهٔ خپـل لاس راوړئ کورونـو تـه
ولـې سوزېـدو دپـاره دانګـئ سـرو اورونـو تـه
ولـې مـو شیشـې د زړو نیـولې دي ګردونـو تـه
ولې مـو رنګونـه زېړ خـوښ کړي دي مخونو تـه
مه راغـواړئ مار د غم لـهٔ غاره ، نشه مه کـوئ
اې د قام زلمیـو ! خـدای دپـاره نشـه مـه کـوئ
دا د رسوایـي لبـاس خـراب کړي د سړي عـزت
دا د فضـول خلقـو سخـاوت لـوټـې کـوي دولـت
دا د نارینتوب قاتله خـوري د سړي شان شوکـت
دا د محبـت قاتلــه هــر ځــای جــوړوي نفــرت

دا سړي اوباسي لهٔ هر کاره ، نشه مه کوئ
اې د قام زلميو ! خدای دپاره نشه مه کوئ

دا د ناکارۍ سبب ده ، دا د کاهلۍ سبب
دا ده د ټولنې او قامونو د مرګي سبب
دا خو د جهان او د اسمان د بيماري سبب
دا د لاعلاجه مرضو او بيماري سبب
نورې يې فتنې شته دي بې شماره ، نشه مه کوئ
اې د قام زلميو ! خدای دپاره نشه مه کوئ

دغه د لوګيو کش چې تاسو زندګي ګڼئ
دغه د نشو خُمار چې تاسو بادشاهي ګڼئ
دغه چې مرهم د پرهرونو د زړګي ګڼئ
دا چې پټې سترګې په نشه کښې رنګيني ګڼئ
ځکه خو وتلي يئ لهٔ کاره ، نشه مه کوئ
اې د قام زلميو ! خدای دپاره نشه مه کوئ

کوم مقصد دپاره چې پېدا يئ هغه کار وکړئ
خدای باندې اعتبار اوهم په ځان باندې اعتبار وکړئ
ژوند د هنرمندو نومياليو په قطار وکړئ
شاباش د نشې په بلاهانو نور ګوزار وکړئ
مه ځئ د ګمنام منزل په لاره ، نشه مه کوئ

***

د ستا سترګې چې وينمه ګرځېږم
نشه مې کړې نه ده او نشه نشه ګرځېږم

چې نه دې وينم ياره لکه څه چې رانه ورک وي
تيټ سر په لار روان يمه خفه خفه ګرځېږم

Pukhto.Net

پښتـون کـه یـم انسـان یمـه دنیـا ولـې کنـه ده
څـهٔ غواړمـه ، څـهٔ وایمـه قیصـه قیصـه ګـرځیږم

تصویر به چې د وخت فنکار زما جوړوي څهٔ رنګ
پهٔ سترګو کښې یې هر ساعت نقشه نقشه ګرځیږم

زمـا د حـوصلې او د بـرداشت دغـه دلیـل دے
" انعامـه " طوفونونـو کښې ډیـوه ډیـوه ګـرځیږم

***

Pukhto.Net

نهٔ غواړم اودې سترګې بیدارې سترګې غواړمـه
چرته د شوخۍ ډکې هوښیارې سترګې غواړمـه

نـن راپانـدې تېـر یـو اجنبـي شـو لمرختـو سـره
ړوند یې کړم څهٔ نهٔ ویم پهٔ لارې سترګې غواړمـه

ډکـې د پښتـو او د الفـت پـهٔ عقیـده چـې وي

داسې وفادارې او دينـدارې سـترګې غوا ړمـه

سترګې د جهان يې چې د سترګـو برتري منـي
هغه په سردارو کښې سردارې سترګې غواړمـه

روغې سترګې څۀ کوم چې درد د مينې نۀ لـري
درد کښې چې د مينې وي بيمارې سترګې غواړمه

بيا مې زړګے غواړي چې د مينې پۀ ټال وزانګـم
بيـا "انعامـه" ګرځـمـه دلـدارې سـترګې غواړمـه
***

سبزي مې ، ستا د مينې اسمان اور راوروي
د زلفـو سيـورے راوړه هجـران اور راوروي

رنګونه، خوشبويانې بې لهٔ تا نهٔ کوي خوند
سپرلے زهر رالوندي ګلان اور راوروي

بد وخته!خدارے دې چېرې پهٔ درياب کښې کړه لاهو
پخپله پهٔ منجالو مارغان اور راوروي

لګيا دي پټوي مېندې څادر کښې خپل زامن
لهٔ خوفه د وحشت ، چې انسان اور راوروي

بهتره ده " انعامه " خاموشي کړو اختيار
چې څهٔ وايو نو بيا جاهلان اور راوروي

***

Pukhto.Net
پښتو

نــور لــهٔ خدایــه چــهٔ غــواړم
زړهٔ تـــه د ستـــا زړهٔ غـــواړم

بـل دې چـې څـوك نـهٔ غـواړي
بیـا بــه دې هـــم زهٔ غـــواړم

کــور نــه ستــا تــر کــور پــورې
هــر وخــت تلــهٔ راتلــهٔ غـــواړم

تـــل د محبـــت د بـــاغ
ونـــې بوټـــي شنـــهٔ غـــواړم

تــهٔ چــې پــهٔ ډار ډار راځـــې
داســې خــو دې نــهٔ غـــواړم

Pukhto.Net

ستـــا د لاس روټـــی ګرمـــه
زهٔ د تنـــــارهٔ غـــــواړم

خدايـــه د وحشـــت ماحـــول
ډوب پـــهٔ دريـــابهٔ غـــواړم

ښـار کښـې مـې چې امـن وي
دا پـــهٔ ژونـــدانهٔ غـــواړم

وخـت مـې پـرېږدوي کلـــه
زهٔ کـــه ودريـــدهٔ غـــواړم

غـم کښـې د اولـس " انعـام "
تـــل بـــانهٔ لامـــدهٔ غـــواړم

❁❁❁

Pukhto.Net

## خـان او دهقـان

**خان :**

زهٔ د پنځهٔ زره کنال زمکې جاګير لرمه
زهٔ پهٔ دېوال د خپل نواب نيکهٔ تصوير لرمه
زما پهٔ سر باندې ټرلې پګړۍ
عامه پګړۍ نهٔ ده پوښتنه وکړه
د دې پګړۍ پهٔ شا تاريخ پروت دے
د اميرۍ تاريخ
د دولتونو د جاګير د نوابۍ تاريخ
داسې تاريخ چې د صديو راسې
پهٔ هر يو دور دې پګړۍ ته سرټيټې شـوې ده
او پهٔ هر دور کښې د کلې خلقو
د دې پګړۍ ګردونه
لکه رانجهٔ يې د نظر دپاره

استعمال کړې دي په کلکو عقیدو سترګو کښې
زهٔ یو مقام یو حېثیت لرمه
د کلي مشر یمه
خلق جرګې کوي په ما خپلې
هم فېصلې خپلې
په خټه کلك پښتون یم
خلق راګوري په درنو ، په عزتمندو سترګو
خپل رواجونه لرم
د ډېرو ډېرو مرضونو علاجونه لرم
تهٔ یو دهقان يې ، یو غریب سړے يې
د ستا په سر باندې ګردونه لېې لېې پراتهٔ
لهٔ ما د رزق د دانو دپاره
د غم د سوز نه ډکې
د درد سره په غړېو نیولي اواز
ماته تپې وایې غمجنې غوندې
نهٔ څهٔ تاریخ په پښتنو کښې نهٔ مقام لرې تهٔ

Pukhto.Net

نهٔ پهٔ دېوال د عظمتونو د چا نام لرې تهٔ
پلار او نیکهٔ دې لهٔ صدیو مزدوري کړې ده
تل یې د خپل وجود خولو کښې زندګي کړې ده
نهٔ دې محل لیدلے
او نهٔ دې چرته د چرګانو دسترخوان لیدلے
اووهه هل زما پهٔ زمکو کښې غنم وکره
درنه بې ځایه نهٔ شي
ډېر یې پهٔ خیال اوکره
تهٔ یو غریب سړے یې
تهٔ یهٔ یو دهقان سړے یې
ستا حېثیت دومره دے
چې پهٔ قیمت کښې لهٔ تا
زما د پښو کېړۍ هم
پهٔ هزارها زیاتې دي
دهقان :

Pukhto.Net
پښتو

منم پټي نهٔ لرم
منم چې يو ګز زمکه نهٔ شته زما
ماته مې پلار او نيکهٔ پرېښې نهٔ ده
ولې يې پرېښې نهٔ ده ؟
يا خو يې ذهن غلامي قبوله کړې نهٔ وه
يا ډېر ساده به وو دوی
يا به قدرت ورعطا کړې نهٔ وه
خو هسې سوال کوم که خوښه دې وي
که خان وو پلار دې خان ، نيکهٔ دې خان وو
او هګه څهٔ رنګه خانان جوړ وو
پهٔ دې تاريخ ګواه دی
نور به زهٔ غلے شم څهٔ نهٔ به وايم
خو تا پخپله کوم کمال کړی دی
نهٔ دې بېلچه وهلې
نهٔ دې پهٔ لمر کښې چرته يوه ورځ مزدوري کړې ده
تکبر مه کوه ، غرور مه کوه

او شکریه ادا کوه د اسمان

ګنې الله ته خو دا ګرانه نهٔ ده

چې ستا پهٔ ځاے باندې د ستا پهٔ کور کښې

زهٔ پېدا کړے ومه

او تهٔ پېدا یې وے زما پهٔ کور کښې

بیا به زهٔ خان ومه او تهٔ یو دهقان

نن به زما پهٔ سر پګړۍ پرته وه

او ستا پهٔ سر باندې همه ګردونه

ما به جامې وې د نواب اغوستې

ستا پهٔ بدن به وې جامې خیرنې

❀❀❀

**

چې ستا د بنګړو شـور شـي
څـوک پاتې به پهٔ کـور شي

چې لاس مې پهٔ زړهٔ کښېږدې
رنجـش پکښـې ټکـور شـي

نظـر مـې پـهٔ جبیـن ستـا
توږه وخـوري ، نسکـور شي

که تهٔ مې حاصل نـهٔ کړې
لهٔ ځان به مې زړهٔ تـور شـي

دې دور کښـې " انعامـه "
ژونـدون د زړهٔ پـهٔ زور شـي

Pukhto.Net

***

ډار شي ختم د مئين ، د جهنم نه
جدايي چې کله اووځي د زغم نه

هغه يار ته به ګيله څهٔ رنګ کومه
پهٔ مزاج يې ډېر نازک دے د شبنم نه

محبت که زما ډېره کمزوري ده
خو خداے نهٔ شم جوړولے د صنم نه

تويوي څومره انسان د انسان وينې
څکه اوس کرکه راځي د بنيادم نه

Pukhto.Net

لکــه لمــر دې چــې قلــم کښــې وي
"انعامه" رڼاګانې دې راوځي د قلم نه

***

عاشقي خو بادشاهي ده بادشاهـي ده
یـوه لار د روښنایي ده ، بادشاهـي ده

د نیـازبین جانـان د نـاز یـوه خبـره
لـهٔ ګوهـرو قیمتـي ده ، بادشاهـي ده

د عـاشق او معشـوقې تـر مېنځـه مینــه
نوابي ده هم خاني ده ، بادشاهي ده

Pukhto.Net

چې جانان راسره وي محل دې نهٔ وي
دتوت لاندې خوشحالي ده،بادشاهي ده

هسې خوشې ګرځېدل "انعامه" مرګ دے
محبت کښې زندګي ده ، بادشاهي ده

***

ګرانه شوه ټول خلق لګيا دي دولتونه غـواړي
زړهٔ سـره ځـهٔ وکړم لـهٔ مـا محبتونـه غــواړي

جانانــه ډېــر پــهٔ احتيــاط بــه راکــوې ګلونــه
نـن سبا خلـق بهانې غـواړي ، جنګونه غـواړي

سوداو زيان نهٔ پېژني ګوره دې پاګل زړهٔ ته مې
رانــه جانانــه ستــا د حُســن بهارونــه غــواړي

بېشکــه قــدر دے پــهٔ کــار د مشرانــو ، مګــر
دغــه واړهٔ هــم توجــه او شفقتونــه غــواړي

چــې خفــه لاړ نــهٔ شــي بلا محبتونــه ورکړئ
دامېلمانهٔ درنه پېسې نهٔ غواړي ، زړونه غـواړي

کټ او پوزے يې پهٔ بمونو باندې باندې وسوزېدل
" انعامه " اوس به پښتانهٔ چرته خوبونه غـواړي
***

هغه ساده تـوب ، زمـا او ستـا د شـرارت ورځـې
څومـره خونـدورې ورومبــۍ د محبــت ورځــې

Pukhto.Net
پښتـــو

نهٔ جړې د ژمي نـهٔ غـرمې محسوسېـدې د هـاړ
دېـرې منفـردې وې د زړونـو د قـربت ورځـې

دا د عشق طاقت وو ګنې دومره پهلـوان نـهٔ وو
قېـس چـې تېـرولې پـهٔ صحـرا د ازيّـت ورځـې

وخته!پهٔ سکون مې که ځواني مې راله مه سپزه
هسـې نـه ضـائع شـي دا زما د سعـادت ورځـې

لاړم چـې " انعامه " بېګـا زهٔ د مېکـدې پـهٔ لـور
دېرو رابنکاره کړلې د خپل خپل اصليت ورځـې

***

ګلونــه پسرلــي راورول چـــې تـــهٔ راتلـــې
پـهٔ زمکـې قالينونـه غوړېـدل چـې تـهٔ راتلـې

Pukhto.Net

نـهٔ هجـر نـهٔ بېلتـون وو نـهٔ رقیـب وو نـهٔ غمـاز
غمونـه مـې د زړهٔ نـه کمېـدل چـې تـهٔ راتلـې

پهٔ غرونو کښې آبشار هم ترنم سره پهٔ سُر کښې
خـواږهٔ خـواږهٔ سازونـه غږول چـې تـهٔ راتلـې

اسمان کښې بوډۍ ټال هم رانښکاره کړلوخپل ځان
رنګونه یې لـهٔ پاسـه راشیـندل چـې تـهٔ راتلـې

راوتـې لـولکۍ دې استقبـال تـه وې جانانـه
وزرو کښـې رنګونـه یـې راوړل چـې تـهٔ راتلـې

د ستـا پـهٔ انتظـار کښـې د ګلونـو نـه " انعـام "
پـاستهٔ پـاستهٔ هارونـه جـوړول چـې تـهٔ راتلـې

***

وخت به تېر نهٔ کړي پهٔ هجران کښې خلق
مه اچوه پهٔ امتحان کښې خلق

خندا دې داسې پهٔ ما سر ګرځوي
لکه طوفان کښې چې راګېر شي خلق

د مینې جرم يو جدا جرم دے
خوش وي پهٔ دار هم پهٔ زندان کښې خلق

خدايه چې تا به پهٔ کوم خيال پېدا وي
او څهٔ کوي ستا پهٔ جهان کښې خلق

Pukhto.Net پښتو

ځينې شول ستوري په اسمان " انعامه"
ځينې شول خاورې ګورستان کښې خلق

***

طلبګار يې همېشه چې د ديدن وي
ضروري نهٔ ده چې هر څوک دې مئين وي

ګمانونه په ما مه کوئ ملګرو !
کله کله سړے هسې غمجن وي

تفاوت د حوصلو ، د ارادو وي
په لښکروباندې بر شي که يو تن وي

اوس د يرې نه خلق پورې دروازې کړي
ګنې لا شپه شوې نهٔ وي ، ماسخوتن وي

چې ګلونه ترېنه هم نازکې غـواړي
دا بدن خو به " انعامه " څۀ بـدن وي

***

ثاني دې نۀ شته د ښائست او د ښکلا جانانه
چې پکښې اوسې دا چم ښکلے دے پۀ تا جانانه

ماتــه سفــر دې د شیشــې پــۀ دېوالونــو راکــۀ
کــه راښوئیږمــه قصــور نــۀ دے زمــا جانانــه

بله قیصه چې لۀ خولې باسم سترے کېږم اشنا
نۀ سترے کېږم چې قیصې کوم د ستا جانانه

خلــق دولــت غــواړي او زۀ محبتونــه وېشــم
ماتــه خــو ګرانــه زندګي شــوه پــۀ دنیا جانانــه

د ستا " انعام " هم پکښې لړه غونډې برخه لري
شاعري شُکر دی میراث نهٔ دی د چا جانانه
***

خپله هر څهٔ بې لهٔ پوښتنې کوې
مانه پهٔ هر څهٔ کښې پلټنې کوې

پهٔ پښتونخوا کښې زندګي داسې شوه
لکه مزل پهٔ سر د ستنې کوې

د ژوند سکروټې مې چې کله هم مري
ماته هوا به پهٔ لمنې کوې

Pukhto.Net پښتو

څۀ دهشتګردې سترګې خداے درکړې
د زړۀ پـۀ سـر راڵـه چـاودنې کـوې

" انعامه " خوښ مې دې غزل شو ځکه
چې مې تعریف پکښې د زنې کـوې

***

چــې د الفــت د تقاضــو احتــرام نــۀ پېژنـــي
مئـن بـه وي خـو د مئنـو مقـام نـۀ پېژنـــي

که د جانان نه مونږ ګیلې کوو نو هسې کـوو
باچا پۀ تخت باندې ځان ویني خدام نۀ پېژني

پۀ مېکدې کښې داسې خلق ساقي ! مه پرېږدوه
چې پۀ آدابو باندې پوهه نۀ وي ، جام نۀ پېژني

Pukhto.Net

ګرځي راګرځي پهٔ هر لوري پهٔ دنيا کښې امن
خــو پــهٔ طـرف د پښتنــو تــش سلام نــهٔ پېژنــي

څهٔ مجبوري به وي چې ځان ترې ناخبره ساتي
داسې کېدے نهٔ شي هغه چې " انعام " نهٔ پېژني

***

Pukhto.Net
پښتو

خپل قدر زياتوي چې مې پهٔ څنګ تېره شوه غلې
تنها به عمرتېر کړي ؟ دومره هم نهٔ ده ښاغلې

اوس څنګه راته وايې چې د در نه زما لاړ شـه
د ورهٔ نــه اشــارې خــو راتــه تــا اول کولــې

کــه ستــا د ښائستونــو کُرمــه نــهٔ رابهېدلــے
زمــا د زړهٔ هيلــۍ بــه پکښــې ولــې لمبېدلــې

د ستاپهٔ شان چې بل څوك پهٔ دنيا کښې پېدا کېږي
اسمان به لاندې کوز وي ، زمکه پاس به وي ختلې

" انعامــه " د بچپــن زمانــه څومــره ښائستــه وه
غمونــه زياتېــدل درتــه چــې څومــره لوئېدلــې

***

Pukhto.Net
پښتو

د ژوند سارهٔ سيوري د لانــدې مــې سفــر راغــے
چــا مــې پــهٔ ســر لوپټــه ونيــوه چــې لمــر راغــے

پهٔ سر ولاړې سپوږمۍ! نن چې پهٔ غرهٔ ډوبه نهٔ شــې
نــن خــو د ډېــرې مــودې پــس زمــا دلبــر راغــے

ګرځي راګرځي یوه داسې اژدها وطـن کښـې
نهٔ یې لکـۍ پـهٔ نظـر راغلـه نـهٔ یـې سـر راغـے

لکه چې تېره حادثه وي پهٔ دې کلي کښې اوس
ګــرد د پرېوتــو دېوالونــو پــهٔ نظــر راغــے

بیا پهٔ محفل کښې څوک دغم قیصه"انعامه" چېړي
چې پهٔ سلګو سلګـو تـرې هـر سړے بهـر راغـے

Pukhto.Net
پښتو

## بــدقسمــتي

عقل دې پناه شي پاس په غرونـو کښـې
هوش دې شي لاهو په دریابونـو کښـې
نـــهٔ دې اوري غـــوږ د بېـــدارۍ اواز
شلې دې شي پښې د بې وسۍ په ساز
بنـــد شـــي د خیالونـــو د فکرونـــو در
مـــات د هوښیـــارۍ شـــي د الـــوت وزر
وچ شـــي د احســـاس د ګهرایـــي دریـــاب
پـــاڼې پـــاڼې تـــور شـــي د شعـــور ګلاب
وغورځـوي رنـګ لـولکۍ ستـا د دهیـان
دهیان دې د ګړنګ په لوري کړي روان
حِس د ستا بې حِسه شي ، بې حِسه شي
ساه د ستا تربته شي ، بې حِسه شي
ستـا مرضـي د ستـا لـهٔ واکـه اووځـي

غېږې نــــه د ستـــا ببباکــــه اووځـــــي
ستـا نظـر تـر تـا پـورې محــدوده شــي
ستـا هُنـر تـر تـا پـورې محــدوده شــي
هـر خواتـه تیـارې شـي رڼـا ورکــه شــي
شـور د دنیـا ورك شــي ، غوغـا ورکـه شـي
ستـــوري د اسمـــان نـــه رڼـــا منـــع کړي
تنکـــه ستـــا دنیـــا لکـــه د ستنـــې کړي
تـــا ســـره چـــې کلـــه حادثـــه کېږي
پاســــه د اسمـــــان پــــهٔ فېصلــــه کېږي
ړونـد بـه شـې " انعامـه " ، تـهٔ بـه وینـې
لاندې بـه راپرېـوځې ، څـهٔ بـه نـهٔ وینـې

❁❁❁

***

معصوم معصوم مخونه یې مخونه شرموي
دا بعضې بعضې خلق خوګلونه شرموي

رنګینې یې دي پاڼې هر یو لفظ یې حسین
کتاب د محبت نور کتابونه شرموي

تۀ لا هم راته وایې چې مې نۀ یادوې تۀ
پۀ تا پسې مې اوښکې بارانونه شرموي

پۀ چا پورې د یو قدم مزل وي شرمنده
او څوك پۀ قدمونو مزلونه شرموي

پۀ زلفو کښې چې کله د جانان ګوتې وهم
" انعامه " دا خوندونه نور خوندونه شرموي

Pukhto.Net پښتو

***

کله نا کله چې جانان د غم سلګۍ ونیسي
داسې لیده شي لکه تندر چې سپوږمۍ ونیسي

داسې بې دمه کړي سړی په زوروړو سترګو
لکه زمری په بیابان ښې چې هوسۍ ونیسي

ستا محبت د ځان سره زهٔ داسې ټینګ ساتمه
لکه بخیل سړی د ځان سره روپۍ ونیسي

په ډېرانونو د پښتون بچي کباړ ټولوي
لوبو ته نهٔ دي اوس فارغ چې لولکۍ ونیسي

د سمندر د حادثو نه غفلت نهٔ دی په کار
څهٔ پته لګي چې طوفان کله کشتۍ ونیسي

Pukhto.Net
پښتو

دانه د زنې د خال راوړي ، دام د زلفو راوړي
" انعامه " ګېر مې کړي د زړهٔ رانه مرغۍ ونيسي

***

Pukhto.Net

د خپله لاسه شوم قاتل د مينې
ګنې جانان نهٔ وو غافل د مينې

ډوب شوم د وخت د بې رُخۍ پهٔ درياب
پهٔ نظر رانغے ساحل د مينې

تا چې کمځو دپاره ګل وغوښتو
پوه شوم چې اوس مې شوې قائل د مينې

ترخــه لهجــه دې تنهــا پــاتې نــهٔ کړي
خــواږهٔ لهجــه کښــې کړه شــامل د مينـــې

" انعامـــه " دا خـــوش قسمتـــي وګڼـــه
ګنـــې هـــر څـــوك نـــهٔ وي قـــابل دمينـــې

## زمـا مينـه

تا سره زما اشنا !
دومره مينه ده زما

لکـه څاڅکـي د بـاران ـ لکـه ريـګ د بيابـان
لکه ستوري پـهٔ اسمـان ـ لکـه خلـق پـهٔ جهـان
لکه خـور درے پهٔ جهان ـ د رنګونـو يـو کـاروان
لکـه غپې کښـې د دريـاب ـ قسمـاقسم ډېرکبـان

Pukhto.Net پښتو

لکـه ډېـر دي پـهٔ دنیـا ـ مزاجونـه د انســان

لکـه ډېـر دي پـهٔ دنیـا ـ قدرتونـه د سبحــان

تا سره زما اشنا !

دومره مینه ده زما

لکه دي چې بې حساب ـ ونې بوټي پهٔ دنیا

لکه دي چې بې حساب ـ هم نهرونه د دریا

لکـه دي چـې بـې حسـاب ـ مزلونـه د هــوا

لکه دي چې بې حساب ـ ملائیکې پهٔ سمـا

لکـه ده چـې بـې حسـاب ـ د مرغانــو انتهـا

لکه ده چې بې حساب ـ د خالق تعالی ثنا

تا سره زما اشنا !

دومره مینه ده زما

لکـه ګـل او د بـورا ـ لکـه تـن سـره د ســاه

لکه څرنګ چې رانجاـ ووپهٔ هیرباندې شېدا

لکه څرنګ چې مجنون ـ ټول قربان وو پهٔ لېلا

لکـه دې چـې حقیقـت ـ د یــوسف د زلېخــا

لکـه وه د سلېمـان ـ د بلقيـس مينـه اشنـا
لکــه وه د دُرخـانۍ ـ د آدم مينــه رښتيــا
تا سره زما اشنا !
دومره مينه ده زما
لکه څرنګ چې شاعر ـ ساتي خپله شاعري
لکه څرنګ چې يوخان ـ فخرجن وي په خانـي
لکه څرنګ وي شېرينه ـ يو باچا ته باچايي
لکه څرنګ وي شېرينه ـ يو انسان ته ژوندکي
لکه څنګه چې يوه مورـخيال ساتي دخپل بچي
انـدازه لګـوه تـهٔ ـ د "انعـام" د عاشقــي
***

لـهٔ هـر يـو زخـم چـاړهٔ اووتـه ، خنجـر اووتـو
د ژنـدګۍ نـه مـې چـې هغـه ستمګـر اووتـو

د کـرايې کـور پـهٔ مثـال مـې زړګـے وګرځـوهٔ
پکښـې ايسـار نـهٔ شـو يـو ښکلـے عمربهـر اووتـو

ډېر مې راتېنګ کړلو د مينې محبت موتې کښې
لکــه د شکــو رانــه وښوئيــدو دلبــر ، اووتــو

د ستا د مينې پهٔ بازار کښې خو ګراني ډېره وه
زړهٔ مې سودا پکښې اونهٔ کړه ترې بهر اووتو

زما د کلي بوډاګان دي که ځوانان دي خدايه
د ښځو پوندو پسې برند برند يې نظر اووتو

" انعامه " داسې يو طوفان راغے پهٔ کلي باندې
هر دېوال پرېوتو لهٔ بېخه ، هر شجر اووتو

***

چې یې خندلي دي او روح د چا وتلے نهٔ وي
دا به بل څوك وي دا به هغه زما ښکلے نهٔ وي

پهٔ رڼا ورځې توږې خورم پهٔ سترګو هېڅ نهٔ وینم
چې مې نظر د ستا پهٔ سپین مخ ګرځېدلے نهٔ وي

پهٔ بدفطرته خلقو هسې ورځ تېرېږي کله
چې د غم بوټے یې د چا زړهٔ کښې کرلے نهٔ وي

هغه سړے خو بېختې حق د ژوندانهٔ نهٔ لري
چې یې پهٔ زړهٔ د محبت مضمون لیکلے نهٔ وي

د زړهٔ ماشوم ته مې خوبونه نهٔ راځي " انعامه "
چې د جانان د یاد زانګو کښې زنګېدلے نهٔ وي
***

د ژوند پهٔ سپینه پاڼه باندې لیکه چې څهٔ لیکې
مرضي دې ده چې بدورباندې لیکې که ښهٔ لیکې

پښتونه ! ځان له خپله دې تیارې دي خـوښې کړې
چې لـولې کتابونـه نـهٔ څـهٔ وایـې او نـهٔ لیکـې

شایـد چـې ستـا د تـورو تـورو زلفـو لیـونے درے
لګیا درے څوك ختلے ، کـوي پاسه پهٔ غرهٔ لیکې

نېغ نېغ مه راتـه ګوره د مړو مړو سترګـو جانانـه
تېـرو تېـرو ښڼـو دې رالــه وکړې پــهٔ زړهٔ لیکـې

جانان سره "انعامه" چې جهان درنه هېر نـهٔ شـي
غزل پهٔ ویښې شپې کښې چې هر کله هم تـهٔ

Pukhto.Net پښتو

لیکـــــــــــــــــــــــــــــــــې

***

داسې د غم سپېرهٔ بادونه پهٔ بل چا رادرومي
که نه دا زهٔ یمه یوازې چې پهٔ ما رادرومي

د ستا تصویر کړي راته مخته څکه وژاړمه
غم که وي دومره زورور بیا دې تنها رادرومي

جانان لهٔ شرمه راسره یو ملاقات نهٔ کوي
بې شرمه یاد یې تلے نهٔ وي لا چې بیا رادرومي

هغه پخپله پهٔ خپل ځان به منور څومره وي؟
دا چې تحریر ته یې زهٔ ګورمه رڼا رادرومي

زما وطن خو بس دغه یو اعزاز حاصل دے
چې هرسړے پکښې خپل کورته هم پهٔ

Pukhto.Net

غلارادرومـــــــــــــــــــــي

اوس خو"انعامه"دانسان دوینو بوی وي پکښې
اوس خوچې کله هم لهٔ کوم لوري هوا رادرومې
***

مـا بـه منلـې اخـر څـهٔ رنګـه د ستـا خبـرې
چې پـهٔ خنـدا کښـې دې کـولې د ژړا خبـرې

لکـه غورونـو تـه مـې څـوک رااچـوي اورونـه
داسې پـهٔ مـا لګي جانانـه د بـل چـا خبـرې

مـا وېـل هــوا ده د ګلونــو رېــوي سرونــه
چې ورنـزدې شومـه کـولې یـې پـهٔ تـا خبـرې

ستورو خـو څکه چرته ما پورې خندلي نـهٔ دي
چې وینبـو شپـو کښې مې کـولې د صبـا خبـرې

---

زمونږ تحريك نور مقصدونه د هوس نۀ لري
دا مو منشور دے خوروو به د رڼا خبرې

"انعامه" دومره وي چې څرنګ مې لۀ خولې راوځي
خلقو بدلې وي پۀ هغه وخت زما خبرې

***

که خلق دي خو بس دي دا خلق
د محبت او د وفا خلق

د وحشتونو انتها وګوره
ګرځي پۀ خپل کور کښې پۀ غلا خلق

بيا ماتم شوے دے د چا پۀ کور کښې
چې بهر وينم پۀ ګډا خلق

چې د یارلېچـو بانـدې خـوب نـهٔ مومـي
چرتــــه راحـــت وغـــواړي دا خلـــق

تـش پـهٔ خنـدا بانـدې غـم نـهٔ ورکېږي
ډېـــر مـــې لیدلـــي د خنـــدا خلـــق

"انعامـه" دا خلـق خـو نـن سره خـوري
وي بـــه چـــې څـــرنګ د سبـــا خلـــق

***

Pukhto.Net
پښتو

تهٔ زاهده پهٔ خپل کار خوښ، زهٔ پهٔ خپل حساب کتاب خـوښ
بېله بېله مجبوري ده ، بېله بېله پهٔ حساب خـوښ

چې راغلې نهٔ وې ښه وه، داسې مرګ خو به مې نـهٔ وو
اوس چې راغلې راته ناست یې، نهٔ پهٔ سوال نهٔ پهٔ ځواب خـوښ

ستا د سترګو په درياب کښې، د نظر هيلۍ مې لامبي
د نظر هيلۍ دپاره، ستا د سترګو مې درياب خوښ

زما خلق په ذهانت کښې، د هېچا نه هم کم نۀ دي
خو زما الميه دا ده، نۀ قلم نۀ يې کتاب خوښ

چې سردار سهي سردار وي، چې ملك سهي ملك وي
پاس په سرې وي دستارخوښ،په دستارکښې يې ګلاب خوښ

نن يې مه چېړئ ملګرو! نن بدل د "انعام" غم دے
نن به مست په ټپې نۀ شي، نۀ په ترنګ به د رباب خوښ

***

مېشتۀ مې نۀ شي زړۀ کښې د ارمان غوندې يو څوك
ډيوې رابلوي د چراغان غوندې يو څوك

Pukhto.Net پښتو

په زمکه يې زما د ژوندون وکړله قبضه
راخور شو مکمل پرې د اسمان غونډې يو څوك

د حُسن په دولت د اميرانو خوږ کوي
غريب دړ خو راځي په ما د خان غونډې يو څوك

د زړهٔ خېمه مې تم نهٔ شوله والوته لهٔ ما
په څنګ کښې زما تېر شو د طوفان غونډې يو څوك

په زړهٔ کښې مې روانه شي يوه ليکه د خوږ درد
هر کله چې زهٔ وينم پرېشان غونډې يو څوك

" انعامه " خامخا به يې زهٔ ډېر ساتمه خيال
مضمون ته مې د ژوند دړ د عنوان غونډې يو څوك

***

ستا په عشق کښې ناتوان یم
ما ویل زه خو پهلوان یم

محبت وایي ما واخله
یوه دنیا یم یو جهان یم

زما زړه کېږي خندا ته
وخته ! زه هم یو انسان یم

د طلب حدونه کوم دي
لالچي یم پرېشان یم

نه یتیم یم نه مسکین یم
ولې بیا هم په فغان یم

Pukhto.Net پښتو

آئينـــــه کښـــــې ځلـــــه ګـــــورم
چـې پـهٔ ځـان هـم بدګُمـان يـم

اوس دې تـــــل دروازه بنـــــد وي
بيـا دې ځلـه وېـل چـې خـان يـم

دا پهٔ وينبې شپې "انعامه"
ځمه کوم پله روان يم

❁❁❁